بسم الله الرحمن الرحيم

ډالۍ

د افغانستان ولسمشر اشرف غني ته ډالۍ

د PTM ټولو غړو او ملاتړ کوونکو ته ډالۍ

هغه کسان چې د افغانستان په خاوره د انګریزانو د کمربند ماتولو هڅه کوي هغو ته ډالۍ

هغه کسان چې ددې معلوماتو پلټنه کوي له حقیقت موندلو وروسته دا معلومات تر نورو رسوي هغوی ته ډالۍ

ټولو لر او بر پښتانو او افغانانو ته ډالۍ

Ketabton.com

ټولو هغو وجودونه چې له سببه یې ما علم حاصل کړ.

دغو ټولو ته دا کتاب ډالۍ شو.

په درنښت

(c) ketabton.com: The Digital Library

aie

## د ليکوال د پیل خبرې

په افغانستان کې د جګړو ريښتوني لاملونو او حل لارو په اړه ما له مختلفو استخباراتي کړيو څخه معلومات کاپې کړل هدف مې ورڅخه تر لاسه کړو، پښتو ژبې ته مې وژباړل او کتاب مې ور څخه جوړ کړو.

ځينې اړخونه کوشش کوي چې دغه کتاب اړوند معلومات څرګند نشي، کله چې دغه کتاب د چاپ لپاره چمتو شو نو ځينو اړخونو ې د چاپ مخه ونيوله او هغه کتابخانو څخه ې هم جريمه واخيسته چې دا ډول مهمو کتابونو په چاپولو کې ې برخه اخيستل غوښتل.

په دغه مهم کتاب باندې بيلابيلو غږيزو انځوريزو چاپې او ټولنيزو رسنيو کوم خبر نشر نه کړو سره ددې چې موږ له بيلابيلو رسنيو سره تماس نيولی وو.

ای افغانانو خپل احساسات مو را ژوندي کړئ د دغه کتاب په موضوعګانو پلټنه وکړئ کله چې حقيقت درته معلوم شي نو بيا د دغه معلوماتو په نشر کې همکاري وکړئ او دومره ې نشر کړئ چې ټول لوست پښتانه او افغانان خبر شي. د سياسي چارو داخل ميشتو يا خارج ميشتو افغان کارپوهانو د پوهنتونونو استاذانو د تاودو بحثونو ګډونوالو او نورو مهمو شخيصتونو ته دغه کتاب ورسوئ. تر څو پلټنه وکړي او له مهمو معلوماتو څخه خبر شي او مهم معلومات تر نورو ورسوي.

دغه کتاب معلومات افغان طالبانو ته هم ورسوئ ځکه چې د دغه کتاب د

(c) ketabton.com: The Digital Library

معلوماتو په واسطه خپل داخلي او خارجي سياست سم کړي.

په درنښت aie

موخې

پښتانو او افغانانو ته د لاندې او يو شمير نورو مهمو پوښتنو ځوابونه وړاندې کول زما موخې دي!

پوښتنې

انګريزانو ولې د نړيوالو ګټو نيولو څخه مخکې پر هند حمله وکړه او دا موضوع په افغانستان پسې څه تړاو لري؟

نړيوالې ګټې په کوم ځای کې دي او پر افغانستان څه اغيز لري؟

د نړيوالو ګټو ساتلو لپاره د انګريزانو په کمربند کې کوم هيوادونه شامل دي او ولې انګريزان غواړي چې د کمربند موضوع پټه پاتې شي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

**نړیوال سازمانونه د کوم سبب له وجې رامنځته شول او ولې د دغو سازمانونو د اغیزو له وجې د ډیورنډ تړون رامنځ ته شوي دی؟**

**ناټو د ډیورنډ کرښې په اړه د کومو معلوماتو پټولو هڅه کوي او په دغه تړون کې د امیرعبدالرحمن خان له خوا د ډیورنډ کرښې لاسلیک په کومو شرطونو تر سره شوي دي؟**

**د انګریزانو لخوا په افغانستان هر راتلونکې حکومت ته کلنې مصرفې بودیجې مکافات د کوم تړون له مخې ورکول کېږي او ولې د مکافاتو پر ځای د مرستو نوم پري ایښودل کېږي؟**

**که چیري انګریزان په افغانستان کې هر راتلونکي حکومت ته کلنې مصرفې بودیجه ور نه کړي نو د انګریزانو ګټو ته ولې خاطر جوړیږي؟**

**انګریزانو د کرزي او اشرف غني حکومتونو ته د کلنې مصرفې بودیجې مکافات د مرستو په نوم ور کول خو اوس ولې طالبانو حکومت ته د کلنې مصرفې بودیجې مکافات په څرګند ډول نه ور کوي؟**

**په افغانستان کې د طالبانو اوسنۍ حکومت د کومو کارونو په واسطه کولی شي چې په ناټو فشار راولی او د افغانستان کلنې مصرفې بودیجې**

(c) ketabton.com: The Digital Library

ور کولو ته ناټو مجبوره شي؟

انګرېزانو ولې د هند د ویشلو پلان جوړ کړو او دا موضوع په افغانستان پسې څه اړه لري؟

انګرېزانو په کوم چل او ولې د افغانستان د کوزې پښتونخوا ځمکه پاکستان ته په لاس ور کړه او پاکستان ته د پښتونخوا لاسته ورتلو په اړه کوم معلومات تر اوسه پټ ساتل شوي دي؟

د هند څخه جلاشویو سیمو اصلې اوسیدونکو ته پاکستانیان وایې خو د پورتنې پښتونخوا پښتانه ولې د کوزې پښتونخوا پښتانو ته پاکستانیان وایې یا د کوزې پښتونخوا پښتانه ولې خپل ځانونه پاکستانیان بولی. سره ددې چې کوزه پښتونخوا او پورتنې پښتونخوا دواړه د افغانستان خاوره ده. او د هند څخه خو نه دی جلا شوي؟

د بون کنفرانس په تړون کې ولی طالبانو او ګلبدینیانو ته ونډه ور نه کړل شوه او د قطر کنفرنس په تړون کې ولې د اشرف غني په مشري حکومت ته ونډه ور نه کړل شوه؟

په پورتنې پښتونخوا باندې ولې انګرېزانو برید کړی وو او د قطر په تړون کې انګرېزانو په کومو ټکو ګټه وکړه؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

د کرزي او اشرف غني له حکومتونو څخه انګريزانو د څه شي ويره درلوده او د اشرف غني حکومت په وخت کې د جنګ د پراخيدو لامل څه وو؟

پاکستان ولې په خوست او کونړ هوايي بريدونه وکړل او ناټو او امريکا ولې د افغانستان هوايي حريم ځاري؟

پر اوکراين ولې بريد وشو او چين ولې کوشش کوي چې د روسي‌ې اقتصاد ضعيف نشي او دا موضوع په افغانستان پسې څه اړه لري؟

د پاکستان صدراعظم عمران خان د پاکستان د پور څخه د خلاصون لپاره د کوم پلان خبري ری‌ښتیا وي او ولې د ناټو او امريکا لخوا له واکه لري شو

او دې موضوع په افغانستان کې د جنګ د پای يا ختميدو لپاره کوم مهم اړخ درلود؟

د افغانستان پايتخت د کوم مهم سبب له مخې له کندهار څخه کابل ته انتقال شوی ده او اشرف غني

ولې داسې پروژې جوړولی چې د افغانستان د شمال او جنوب په خوا وي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

**اشرف غني ولې خپلو مخالفینو یعنې طالبانو ته حکومت ور کړو او د زورواکو څخه د واک اخیستلو پلان د چا وو چې افغان طالبانو پلی کړو؟**

**د هند د ویشلو لپاره انګریزانو پلان جوړ کړی وو چې له سببه يې هند وويشل شو او انګریزانو دغه د ویش پلان د افغانستان لپاره هم جوړ کړی وو چې د چا لخوا دغه پلان شنډ شو؟**

**د شانګهای په غونډه کې ولې افغانستان ته د ګډون بلنه ور نه کړل شوه؟**

**افغان رسنۍ ولې د خبر او ریوټ جوړولو کې دا جمله نه استعمالوي چې د پاکستان تر کنټرول لاندې د افغانستان د کوزې پښتونخوا سیمه؟**

**ددې او یو شمیر نورو مهمو پوښتنو ځوابونه په همدې کتاب کې موندلی شئ. او په داسې پټو رازونو باندې ځانونه خبر کړئ چې تر اوسه څوک ترې خبر نه دي.**

**سریزه**

**الحمد الله رب العلمین...**

(c) ketabton.com: The Digital Library

د لوی خدای ج د لوی فضل په سبب ما دا کتاب ولیکلو او د خدای ج شکر ادا کوم چې ماته ی‌ې د دغه کتاب لیکلو لپاره د هلو ځلو حوصیله را کړه.

د آسیا لویه وچه د انسانانو په وینو باندې رنګ شوي ده نور نو د داسې حالت لیدلو حوصیله نه وینو خپله به کوشش وکړو او له پاک ذات څخه به د تقدیر د بدلیدلو لپاره دعا وکړو. چې یا الله ته د مسلمانانو پر وړاندې د کفر لښکر ته ماتې ور کړه.

د یادو ه‌ځو په جریان کې دا معلومات مهم ګڼل کیږي نو ځکه ما شرایطو ته په کتو د کتاب د لیکلو پریکړه وکړه، د دغه کتاب جوړولو لپاره د معلوماتو راټولولو کې له ډیرو تکلیفونو سره مخ شوی یم په ځینو ځایونو کې د مرګ تر حدودو رسیدلی یم خو بس تقدیری فیصلې زما د مرګ نه وې.

ما د اشرف غني له حکومت سره کار کړی له اشرف غني وروسته ما د افغان طالبانو سره کار کړی خو د کار کولو ثبوتونه مې له منځه وړی دي. او اوس وخت کی هم د افغانستان شمالی برخو ته ما سفرونه کړی دی د مقاومت جبهی تر نفوذ لاندې سیمو ته هم ما سفرونه کړي دي او د کوزې پښتونخوا سیمو ته ما سفرونه کړي خو د ډیرو مصرفونو او تکلیفونو ورسته زه په دې وتوانیدم چې دغه کتاب ولیکم.

زه د پلار مشر زوی یم او کور کې ډیر اقتصادي مشکلات هم لرم خو بیا هم د خدای ج شکر ادا کوم چې ماته د دغه کتاب لیکلو توان راکړو.

په درانښت aie

(c) ketabton.com: The Digital Library

**په افغانستان کې د جګړو ریښتوني لاملونه!**

**په دغه کتاب کې پټ رازونه څرګند شوي دي**

**په ګران هېواد کې روانه جګړه په نړیواله کچه دوه اړخه لري چې لومړی یې سیمه یز اړخ دی او دویم یې نړیوال اړخ دی.**

**لومړی سیمه یز اړخ**

**د افغانستان ګاونډي او ددې سیمې یو شمیر نور هېوادونه د افغانستان د اوبو ، جنغوزیو ، ځنګل وهلو او نورو شیانو د غلا تمه لري، چې له سببه یې دغه هېوادونه د افغانستان  په ورانولو کې برخه اخلي.**

**دویم نړیوال اړخ**

**یو شمیر نړیوالو هېوادونو نړیوالې کټې تر کنترول لاندې راوستې دي او د ساتلو لپاره یې له یو شمیر تګلارو څخه کار اخلي چې دغه تګ لارې په افغانستان ، ایران ، عراق ، سوریه کې د جنګ لوی سببونه بلل کیږي، او دغه هېوادونه د جنګ لومړی کرښه بلل کیږي.. چې تر اوسه ایران د خپل کامیاب بهرني سیاست له وجې په داخل کې د ایران کې د جنګ پیل څخه مخنیوی کړی ده.**

**دا چې نړیوالې کټې څه دي او د نړیوالو هېوادونو هغه تګ لارې څه دي نو د پوهیدلو لپاره یې لاندې مطلب ولولئ.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

## نړیوالې ګټې

الله ج د مسلمانانو د بریا او قوت لپاره د نړۍ په منځنۍ برخه یعنې عربو ځمکه کې نړیوالې ګټې پیدا کړي دي، د مثال په ډول په سعودي عربستان کې د بیت الله شریفې قبله یا کعبه چې د نړۍ منځنۍ نقطه بلل کیږي، هلته د حجیانو او عمري کوونکو کسانو ګټې دومره زیاتې دي چې شمارل یې هم سخت دي، او د سعودي د تیلو د خرڅلاو ګټې هم ډیرې زیاتې دي، همدارنګه د بهرنیو هوادونو څخه راغلو مزدورانو څخه هم مالیې اخل،، د موټرونو په غلت رفتار هم مخالفې اخل،، د خپل داخلې تجارت څخه هم بې شماره ګټه ورته پاتې کیږي، غني کانونه لري چې سره زر او سپین زر یې هم نړیوال شهرت لري، که په لنډ ووایو چې سعودي،دوبي،کویټ،قطر او نور اسلامې عربي هوادونه د مهمو نقطو او قیمتي شیانو د شتون له وجې د نړیوالو ګټو او نړیوال تجارت مرکزونه دي. خو له بده مرغه چې دغه ګټې د کفارو لاس ته ورغلې دي. او دغه هوادونو ته صرف کلنۍ بودیجه ور کوي او نوره ټوله ګټه کفار له ځان سره نورو لویو وچو ته انتقالوي، هغه خو لا څه چې ناټو اوس د عربي هوادونو په داخلي چارو کې هم لاس وهنه شروع کړي ښځو ته د مهرم پرته د چکر ، موټر چلاول او مهرم پرته د شپې اجازې ور کړل شوي دي. او داسې ... کله چې سعودي د یمن حکومت ملاتړ لپاره په یمن برید وکړو نو ناټو سعودي ته د جنګ لپاره مصرفې بودیجه ور نه کړه نو سعودي مجبور شو چې د دغه جنګ مصرف په داخلې عادې بودیجه کې د سپمولو له وجې تر لاسه کړي، چې له سببه یې سعودي په داخل کې بې ړنی حالت رامنځ ته شو او داخلي کار او تجارت ته زیان ورسیدو. دا په داسې حال کې ده چې ګټې هم د سعودي دي او بې ړني حالت کې د سعودي په واک کې هم نه ور کول کیږي. ځکه چې په سعودي او نورو عربي هوادونو باندې د امریکا او ناټو امپراطورې ده. امپراطورې یعنې

(c) ketabton.com: The Digital Library

پاچاه یو کس وي او واک يې د نورو وي.

مقصد ګټې د آسیا لويې وچې دي، او د نورو لويو وچو هووادونه پرې آباد دي، چې د نړۍ اقتصاد يې په یو ځنګ درولی ده.

د نړیوالو ګټو لپاره د سیمې او نړۍ هووادونو تګ لارې

د نړیوالو ګټو تر لاسه کولو لپاره په نړۍ کې په پټه او ښکاره ځو دلې یا سازمانونه جوړې شوي دي،

موږ يې دلته د ځینو نومونه اخلو،

لومړی ناټو سازمان :-

د نړیوالو ګټو تر لاسه کولو لپاره شاوخوا ۲۹ هووادونه یو ځای شوي دي او د ناټو په نوم سازمان يې جوړ کړئ ده، له بده مرغه نړیوالې ګټې اوس د دوی په لاس کې دي. امریکا يې مشرتوب کوي، کیدای شي چې اوس يې شمیر زیات شوي وي. وخت ناوخت د خپل هدف لپاره په افغانستان بریدونه کوي.

دویم شانګهای سازمان :-

د نړیوالو ګټو تر لاسه کولو لپاره آسیايې هووادونو د شانګهای په نوم سازمان جوړ کړی ده،کفر حکومت لرونکي او مسلمان حکومت لرونکي

(c) ketabton.com: The Digital Library

آسیاۍ هېوادونه پکې شامل دي، روسیه یې مشرتوب کوي، دوی په دې هڅه کې دي چې نړیوالې ګټې تر لاسه کړي، دا چې نړیوالې ګټې د آسیا په لویه وچه کې دي، ځکه دوی غواړي چې د آسیا ګټې دلته په آسیا کې پاتې شي. دا څو لسیزې مخکې روسیې غوښتل چې د افغانستان له لارې د هند سمندر ته لار پیدا کړي خو د انګریزانو د پلان سره سم په داخل د افغانستان کې دوی ماتې وخوړه. د شانګهای او شوروي تر منځ توپیر دا ده چې د شوروي اتحاد کې شاملو ټولو هېوادونو یو حکومت درلود هغه د روسیې تر امر لاندې خو د شانګهای په سازمان کې شامل هېوادونه بیلابیل حکومتونه لري خو په مجموع کې یوې ګټې ته د کار کولو کوشش کوي.

دریم د اسلامې هېوادونو د ګډو ګټو همکاریو سازمان :-

په دغه سازمان کې د نړۍ اسلامې حکومت لرونکي هېوادونه شامل دي، هدف یې دا دی چې د نړیوالې ګټې مسلمانانو ته پاتې شي.

په دغه سازمانونو کې ناټو په اول نمبر قوت سره ده. شانګهای په دوهم نمبر قوت سره ده. خو دا دریم سازمان تر دوی لږ څه کمزوری ده، ځکه چې خپل منځي اتفاق یې کمزوری ده.

په نړۍ او افغانستان باندې د شنګهای او ناټو سازمانونو اغیزې:-

په شنګهای سازمان کې نړیوالو ګټو ته نږدې ضعیف هېوادونه شتون لري، په پوهې یا ناپوهې کې په مستقیم یا غیر مستقیم ډول د ناټو ملاتړ کوي، سره ددې چې دغه هېوادونه په شنګهای سازمان کې دي، خو

(c) ketabton.com: The Digital Library

حکومتونه یې کمو ګټو ته په کتو باندې غولېږي او د ناټو ملاتړ کوي، خو روسیه چې د نړۍ تر ټولو لوی هېواد دی، او تر یو حد پورې قوت هم لري کوشش کوي چې نړیوالو ګټو ته نړېدي سیمو ته لار پیدا کړي.
نړیوالو ګټو ته نږدې سیمو یا هم په مستقیم ډول نړیوالو ګټو ته د روسیې رسیدل د ناټو لپاره د خاطر زنګ دی. ځکه ناټو آټکل کوی که روسیه نړیوالو ګټو ته لار پیدا کړي نو یا به په دغه ګټو کې شرکت کوي یا به د ګټو له منځه وړلو کواښ جوړوي. دا چې روسیه د افغانستان،ایران،ایراق،سوریې هېوادونو له لارې نړیوالو ګټو ته لار پیدا کولی شي، نو ځکه دا هېوادونه د شنګهای او ناټو تر منځ د جنګ سرحدي ډاګرونه بلل کېږي. تر اوسه ایران په بهرني سیاست کې کامیاب دی، ځکه په ایران کې د جنګ د شروع مخه نیول شوي ده، د ایران لپاره په بهرني سیاست کې لانور اختیاط هم په کار دی. د روسیې او ناټو تر منځ جنجال تر اوسه د افغانستان ، ایران ، ایراق ، سوریه په حدودو کې دی، تر اوسه د نړیوال تجارت مرکزونو یعنې دوبي ، سعودي ، قطر ، عمان او نورو ته نه دی داخل شوي. کله چې روسیه ماتې وخوري، یعنې په نړیوالو ګټو باندې د برید ګواښ یې ورک شي یا نړیوالو ګټو او نړیوال تجارت مرکزونو ته لار پیدا کړي. نو په افغانستان ، ایران ، ایراق ، سوریه کې به ریښتونې سوله راشي، مقصد د ناټو او روسیې د ګواښ شتون سره پورتنیو هېوادونو ته ریښتونې سوله نشي راتللی.

روسیه غواړي چې د پخواني روسیې یا شوروي اتحاد څخه بیل شوي هېوادونه او نور اسیایې او اروپایې هېوادونه په بیلابیلو طریقو د ځان سره د خپل قوت د لا زیاتوالي لپاره په ډله کې شمار کړي. او هغه هیوادونه چې له روسیې څخه بیل شوي او د روسیې مخالفت کوي یا هم د ناټو سازمان سره یو ځای کېږي، روسیه هغوی ته هم خپل ځان قوي ښکاره کوي، چې په اوس وخت کې یې د اوکراین جنګ مثال یادولی شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

انګریزان په دې پوهیدل چې نړیوالې ګټې د آسیا په لویه وچه کې د عربو په سیمو کې دي، ځکه یې د عربو سیمو د کنترول پلان جوړ کړو. خو پلان یې داسې وو چې لومړی باید هغه سیمو کنترول ونیسي چې د عربو سیمي ور څخه ګواښل کیدای شي. همداسې یې وکړل او انګریزان د همدې هدف لپاره هند ته راغلل، دا هغه وخت وو چې په هند باندې د احمد شاه بابا امپراطورۍ پاته رسیدلی وه، دا چې هند نړیوالو ګټو ته لار لرونکی هیواد دی او د هند سمندر څخه نړیوالو ګټو مستقیمه لار شتون لري نو ځکه انګریزانو د هند هیواد خپل مرکز اعلان کړو او برتانوي هند یې ونومولو. وخت ناوخت یې په افغانستان ، ایران ، او...باندې د کنترول ټینګولو پلانونه جوړول.

هندوستان ته د انګریزانو راتګ او په افغانستان یې اغیز :-

کله چې انګریزان هند ته راغلل نو روسیې هڅه وکړه چې د نړیوالو ګټو کې د ګډون په هدف د هند سمندر ته لار پیدا کړي، د روسانو لپاره د افغانستان لاره نږدې لار وه، نو د افغانستان حکومت څخه یې د لارې غوښتنه وکړه، مقصد روسیې غوښتل چې د افغانستان شمال برخو ته داخل شي او د افغانستان جنوب برخو له لارې هند سمندر ته لار پیدا کړي.

په افغانستان کې د احمدشاه بابا د زوی تیمور شاه واکمنې وه، نو تیمورشاه د خپلو کسانو سره د سلامشورو وروسته د لارې ور کولو لپاره اقدامات شروع کړل، ځکه د لارې په ور کولو کې د افغانستان ګټې وې، د پاچاه نظر داسې وو چې د ښه اقتصاد نړیوال ریکارډ جوړ کړي ځکه چې د نړۍ تر ټولو لوی هیواد یعنې روسیه په افغانستان باندې لار لري او ګمرک به افغانستان ته ور کوي، دغه لار د افغانستان په دښتو باندې را ولې او دښتې به هم ورسره آبادې شي، د سرک به کلني عواید هم اخل،، د موټرونو څخه به ګمرک اخل،،د هر قوم خاوري ته داخلیدو سره سم به

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه قوم ته هم برخه ور کوي چې ځینې کسان د وړو قومونو برخې ته دانګه اخیستل هم وای،، نو افغان پاچا داسې پلان جوړ کړو د افغانستان په دښتو او بیابانونو باندې سرک راشي او افغانستان آباد شي، د پلان مطابق افغان پاچا د افغانستان پایتخت یې له کندهار څخه کابل ته انتقال کړو ځکه چې د افغانستان پاچا ښاغلی تیمور شاه په فکر افغانستان د شمال او جنوب تر منځ منځنۍ یا مرکزي نقطه کابل ښار وو، یعنې روسیه به د افغانستان شمالي برخو بلخ یا قندوز یا بغلان سیمو ته داخلیږي او د افغانستان مرکزي سیمو یعنې کابل ته به راځې او له هغه وروسته به د افغانستان جنوبې سیمو هلمند ، کندهار او نیمروز ته به ځ،، د کندهار جنوب ته بیا بلوچستان موقیعت چې مرکز یې د کوټې ښار دی، د بلوچستان ولسونو ځانونه په افغانستان پورې مربوط ګڼل، مقصد د افغانستان د جنوبې سیمو او د هند سمندر تر منځ د بلوچستان ښار شتون لري، د بلوچستان څخه تر هند سمندر پورې لار آسانه وه ځکه چې ولسونو یې د افغانستان د ګټو ملاتړي وو.

کله چې انګریزان د تیمورشاه په پلان پوه شول نو انګریزانو د تیمورشاه سره خبري اتري شروع کړي او انګریزانو وویل چې تاسو ولې روسې ته لار ور کوي؟

افغان پاچا وویل چې موږ د افغانستان لپاره کلنې مصرفې بودیجې پوره کولو او د افغانستان د آبادۍ لپاره روسې ته لار ور کوو،

انګریزانو وویل چې موږ به هر کال د افغانستان کلنې مصرفې بودیجه او د آبادۍ پیسې به در کوو خو تاسو روسانو ته لار مه ور کوئ.

افغان پاچا یعنې تیمور شاه د انګریزانو په خبرو وغولیده او د افغانستان او انګریزانو تر منځ تړون وشو چې افغانستان به روسې ته لار نه ور کوي او په بدل کې به یې انګریزان د افغانستان کلنی مصرفې بودیجه ور کوي، کله چې د هوواد کلنې مصرفې بودیجه انګریزانو پر غاړه

(c) ketabton.com: The Digital Library

واخیسته، نو د احمدشاه بابا اولادونو صرف د واک پر سر جنجالونو ته مخه کړه نور ور څخه هر څه هیر شول. د کلنی مصرفې بودیجې نور جذیات د ډیورنډ کرښې د لاسلیک شرایطو تر عنوان لاندې لوستلی شئ.

انګریزانو څو ځلې په افغانستان بریدونه کړي دي خو ماتې يې خوړلې ده. خو اوس هم کوشش کوي چې پخوانی تاریخ له افغانانو څخه هیر کړي. ددې لپاره د کوزې پښتونخوا او پورتنې پښتونخوا په درسي نصاب او د ملی ارشیفونو په معلوماتو کې لاس وهنه شوي او مهم معلومات ورڅخه غلا شوي او پر ځای يې بې فایدې معلومات ور اضافه شوي دي. چې د افغانستان د تاریخ کتابونو لنډیز نه شتون يې تر ټولو لوی ثبوت بللی شو.

د هند او افغانستان تر منځ د وخت په تیریدو سره د ډیورنډ کرښه را منځ ته شوه، دا چې ولې رامنځ ته شوه ددې پوښتنې د ځواب لپاره لاندې معلومات لوستلی شئ.

ډیورنډ کرښې رامنځ ته کیدو سبب

په هندوستان باندې د احمدشاه بابا د امپراطورۍ څخه وروسته د برتانوي انګریزانو امپراطوري راغله، هغه وخت روسیې غوښتل چې نړیوالو ګټو ته لار پیدا کړي، خو انګریزانو غوښتل چې د روسیې د لارې مخنیوی وکړي. د روسیې هدف ته رسیدو لپاره د افغانستان خاوره مهمه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ګڼل کیده ځکه چې روسیې د افغانستان سره پوله لرله(اوسمهال د افغانستان شمال خوا ته پراته ګاونډي هووادونو لکه تاجکستان ، اوزبکستان ، ترکمنستان له روسیې څخه جلا شوي دي) روسی‌ې غوښتل چې د افغانستان شمال برخو ته داخل او د افغانستان جنوب برخو له خوا هند سمندر ته لار پیدا کړي ځکه چې هند سنمدر سره نړدې نړیوالې ګټې شتون لري. هغه وخت هند او افغانستان پوله لرله خو برتانوي پاکستان نه وو. د روسانو هدف دا وو چې هند سمندر ته د لارې په پیدا کولو سره په نړیوالو ګټو کې د انګریزانو سره ګډون وکړي یا دغه ګټې و ګواښ،، ددې لپاره یې د افغانستان له حکومت څخه د لاري د ور کړي غوښتنه کوله.

برعکس انګریزانو غوښتل چې افغانستان روسی‌ې ته لار ور نه کړي. ددې لپاره یې د افغانستان سره یو تړون لاسلیک کړو چې د تړون له مخې د افغانستان حکومت ته به هر کال کې ۱۲۰۰۰۰۰ دولس لکه روپې یعنې د هغه وخت کلنی مصرفې بودیجه ور کوله. او د افغانستان حکومت روسی‌ې ته لار نه ور کوله. کله چې په افغانستان کې امیر عبدالرحمن خان واک ته ورسیدو. نو له روسیې سره د همکاري یو تړون لاسلیک کړو. ځکه نوموړي غوښتل چې افغانستان د شانګهای سازمان په واسطه په نړیوالو ګټو کې شرکت وکړي. په دې ډول د روسی‌ې سره تړون کې راغلې وو چې افغان حکومت به روسی‌ې ته لاره ور کوي. او د روسیې همکار به وي. ددې تړون څخه مخکې همداسې یو تړون د انګریزانو سره هم لاسلیک شوي وو، چې هر کال یې دولس لکه روپې افغانستان حکومت ته ور کول کیدي. ( چې په دې سره یو تړون د انګریزانو سره د همکارۍ او دویم تړون د روسیانو سره د همکارۍ لپاره لاسلیک شوي وو) د نوموړي غلطي دا وه چې له انګریزانو سره یې تړون نه وو لغوه کړی او د روسی‌ې سره یې د همکاري تړون لاسلیک کړو. انګریزانو د ځان د دفاع له پاره وغوښتل چې د افغانستان د پورتنې پښتونخوا په جلال

(c) ketabton.com: The Digital Library

آباد کې ځای په ځای شي، او دغه پلان ي‌ې د امیرعبدالرحمن خان سره شریک کړو، او امیرعبدالرحمن خان د انګریزانو له دغه پلان سره سخت مخالفت څرګند کړو. له دې وروسته د یادې موضوع د حل او د انګریزانو او روسیانو تر منځ د جنګ د مخنیوي له پاره ۱۸۹۳م کې له هندوستان څخه افغانستان ته د انګریزانو شپږ کسیز یا پنځلس کسیز هیئت (په ځینو کتابونو کې شپږ کسیز او په ځینو کتابونو کې پنځلس کسیز هیئت یادونه شوي ده) راغلو. چې هیئت مشرتوب د بریتانیه د بهرنیو چارو سکرتر (مارټیمر ډیورنډ) پر غاړه وو. د انګریزانو هیئت د افغان حکومت مشرتبه ښاغلی امیر عبدالرحمن ته وویل چې امیر صیب ستاسو د دوه مخلفو لوریو یعنې انګریزانو او روسیې دواړو سره د همکاري تړونونه امضاء کړي دي، او روسیې ته د لارې ورکړه د جنګ د پیل شرایط بلل کیږي، د جنګ د پیل سره سم ته مجبور ی‌ې چې خپل فوځ په دوه لویو ډلو وویشي، یوه ډله د انګریزانو کومک ته ورکړي. او بله ډله د روسیې کومک ته ور ولیږي.

ځکه چې ستاسو د دواړو طرفونو سره د همکارۍ تړون لاسلیک یا امضاء کړی دی.

امیر عبدالرحمن خان د انګریزانو هیئت ته وویل چې اوس حل لار څه ده. د انګریزانو هیئت وویل د جنک د مخنیوې لپاره په کار ده چې زموږ او ستاسو( د هند او افغانستان ) تر منځ باید بې طرفه ځمکه یا ځایونه رامنځ ته شي. او دغه ځمکه یا سیمې باید د افغانستان څخه جلا شي. ځکه چې د افغانستان حکومت د متضادو تړونونو له وجې په برتانوی هند کې میشتو انګریزانو او روسیې یا د هغه وخت شوروي اتحاد تر منځ د سخت جنګ شرایط برابر کړي دي. او په دې جنګ کې به لویه قربانې افغانستان ور کړي، ځکه چې د دواړو لوریو سره د همکاري تړون لري. امیر عبدالرحمن خان دغه نظر ومنلو او تاید ی‌ې کړو. د انګریزانو استازي او د افغانستان حکومت استازي د څو میاشتو ګرځیدو را ګرځیدو

(c) ketabton.com: The Digital Library

او سلامشورو وروسته نتیجې ته ورسیدل. نو په دې توګه د ډیورنډ فرضي کرښه په برتانوي هند کې د میشتو انګریزانو او د افغانستان پاچاه امیر عبدالرحمن خان تر منځ په ۱۸۹۳ میلادي کال د کابل په چهلستون ماڼۍ کې د موقت وخت یعنې سلو کالونو لپاره په ځانګړو شرایطو باندې لاسلیک شوي ده. یعنې د هند او افغانستان تر منځ په ځانګړو شرایطو لاسلیک شوه.

دا چې د مخالف لورې یعنې د انګریزانو د هیئت مشرتوب د مارټیمر ډیورنډ پر غاړه وه. نو ځکه دغه تړون د ډیورنډ په نوم ونومول شو.

د ډیورنډ تړون د لاسلیک کولو شرایط!!!

د ډیورنډ تړون له مخې د افغانستان څخه د ۱۰۰ سلو کالو یعنې موقت وخت لپاره د کوزې پښتونخوا ځمکه جلا شوه او دغه ځمکه بې طرفه اعلان شوه. چې دغه د افغانستان مربوط کوزه پښتونخوا به تر سلو ۱۰۰ کالو پورې خپلواکه او بې طرفه وي، له سلو کالو وروسته د کوزې پښتونخوا اوسیدونکي په خپله خوښه کولی شي چې خپلواکه پاتې شي. یا بیرته د افغانستان سره یو ځای شي.

د هند حکومت هڅځ وخت د دغه جلا شوي سیمې د ملکیت او دغه سیمې ته د داخلیدو حق او اجازه نه لري. او د افغانستان حکومت هم د سلو کالو په موده کې دغه سیمو ته د داخلیدو حق او اجازه نه لري.

د پورتنیو شرایطو د خلاف کړنو په مقابل کې د ډیورنډ تړون باطل بلل کیږي. د ډیورنډ تړون د باطل کیدو سره سم به هر څه د پخوا په شان شي، یعنې افغان حکومت به سم د لاسه موقت جلا شوي کوزې پښتونخوا سیمي یا ډیورنډ کرښې ته داخل شي. که د کوم هوواد یعنې ( افغانستان یا هندوستان ) له طرفه د ډیورنډ تړون باطل شي نو د جنګ

(c) ketabton.com: The Digital Library

د پيل مسؤوليت د هغه هوواد پر غاړه دی.

د ډيورنډ تړون څخه وروسته د افغانستان حکومت ته په هر کال کې د دولس لکو روپيو پرځای اتلس لکه روپې د انګريزانو له خوا ور کول کېږي.

غواړم دغه موضوع لږ څه روښانه کړم.

د افغانستان او برتانيه تر منځ يو تړون موجود چې د افغانستان حکومت به روسۍ ته لار نه ور کوي او په بدل کې به د برتانۍ حکومت د افغانستان حکومت ته ټوله کلنۍ بوديجه ور کوي،

د ډيورنډ تړون پر وخت د افغانستان يعنې ( کوزه پښتونخوا او پورتنۍ پښتونخوا ) ټولو مربوطو سيمو کلنۍ مصرف يا کلنۍ مصرفې بوديجه دولس لکه ۱۲۰۰۰۰۰ حساب شوي وه، ددې په اړه معلومات نه شته چې دغه حساب شوي بوديجه په افغانيو حساب شوي ده، يا په دينارو حساب شوي ده، يا په ډالرو حساب شوي ده، خو دومره وايو چې د افغانستان د کوزې پښتونخوا او پورتنۍ پښتونخوا ټولو سيمو ټوله کلنی مصرفي بوديجه دولس لکه حساب شوي ده، او دغه بوديجه د برتانويانو لخوا د افغانستان حکومت ته په دې شرط ور کول کيده چې روسۍ ته لار ور نه کړي،

د ډيورنډ تړون تر سره کولو پر وخت د افغانانو او برتانوي انګريزانو تر منځ په دغه کلنۍ مصرفي بوديجي خبري اتري وشوي، افغانان او انګريزان يوي نتيجې ته ورسيدل او لاندې پريکړه وشوه،

پخوا د ټولې پښتونخوا لپاره کلنی مصرف دولس لکه حساب شوي وو

(c) ketabton.com: The Digital Library

خو د ډیورنډ تړون په رامنځ ته کیدو سره به په هر کال کې د برتانویانو لخوا یوازې پورتنۍ پښتونخوا ته اتلس لکه ۱۸۰۰۰۰۰ کومکې بودیجې ور کولو تړون لاسلیک شوی وو، ځینې کسان وایې چې کوزه پښتونخوا خرڅه شوې ده او موږ یې مالیه اخیسته. خو دا خبره دروغ ده ځکه موږ روسی‌ې ته لار نه ورکوله او په بدل کې مو د انګریزانو څخه مکافات اخیستل. د ډیورنډ تړون رامنځ‌ته کیدو په سبب د انګریزانو او روسانو تر منځ د جنګ مخه ونیول شوه. نو امیر عبدالرحمن د جنګ مخنیوې تګ لارو د پلې کولو په بدل کې له انګریزانو د کلنی مصرفې بودیجې تر څنګ د اضافې کومکې بودیجې غوښتنه کوله. انګریزان مجبور وو چې کومکې بودیجه ومنې. ځکه چې امیر عبدالرحمن له کومکې بودیجې پرته تړون نه لاسلیک کاوه.

په دې تړون کې راغلې دې چې کله د ډیورنډ تړون وخت پوره شې او کوزه پښتونخوا د پورتنۍ پښتونخوا سره یو ځای شې نو افغانستان ته یوازې مصرفې بودیجه ور کول کی‌ږې او اضافې کومک یا کومکې بودیجه به پرې بنده شې، یعنې په هر وخت او هر زمان کې چې د افغانستان او برتانیه تر منځ د افغنستان له طرفه روسی‌ې ته د لار نه ور کړې تړون موجود وې نو د افغانستان حکومت کلنۍ مصرفې بودیجې ور کړه د برتانویانو په غاړه ده. یعنې که دغه کلنۍ بودیجه زیاتی‌ږې یا کمی‌ږې خو برتانوې انګریزان مجبور دې چې کلنۍ مصرفې بودیجه د افغانستان حکومت ته ور کړې، خو چې د ډیورنډ تړون موجود وې نو یوازې پورتنۍ پښتونخوا ته به د ټولې پښتونخوا ( کوزه پښتونخوا او پورتنۍ پښتونخوا ) په یونیم چند زیاته بودیجه ور کوې، لکه دولس لکه مصرفې بودیجې چې په اتلس لکه کومکې بودیجه بدله شوې وه، دغه اتلس لکه بودیجه په هغه وخت کې دومره زیاته وه چې د کوزې پښتونخوا او پورتنۍ پښتونخوا ټولو اوسیدونکو لپاره یې د کار زمینه برابراولی شوه، خو د دغه بودیجې مصرف لپاره سم مدریت

(c) ketabton.com: The Digital Library

**موجود نه وو،**

**د برتانوي انګريزانو له طرفه دغه کلنۍ کومکي بوديجه د پورتنۍ پښتونخوا په واک کې ور کول کېږي، او پورتنۍ پښتونخوا کولی شي چې کوزې پښتونخوا ته د ملکې برخو لپاره په کومکې بوديجه کې برخه ور کړي.**

**اوسمهال د برتانويانو او افغانانو تر منځ هغه پخوانی تړون موجود دی، چې د دې تړون له مخې به افغانستان روسیې ته لار نه ور کوي او برتانيه به د دې په بدل کې د افغانستان ټول کلنی مصرف پر غاړه اخلي، خو اوس د ډيورنډ تړون موجود دی نو د پورتنۍ تړون په اساس برتانويان مجبوري دي چې د افغانستان د کوزې پښتونخوا او پورتنۍ پښتونخوا ټوله کلنۍ مصرفې بوديجې په نسبت يونيم چند زياته کومکې بوديجه د پورتنۍ پښتونخوا په واک کې ور کړي، ځکه چې دغه موضوع د ډيورنډ تړون کې موجوده ده،**

**خو له بده مرغه برتانوي انګريزان له دغه موضوع څخه ځان خلاصوي او يو کم شمير بوديجه په افغانستان کې هر واک ته رسيدونکي حکومت ته د مرستي په بهانه ور کوي، او افغانستان ته ور کړل شوي بوديجه د کلنی مصرف څخه ډيره کمه ده،**

**برتانوي انګريزان غواړي چې په دغه کمه بوديجه باندې د افغانستان خلک و غولوي، بدبختانه چې د افغانستان حکومت او ولس په دې کمه بوديجه باندې د مرستي په نوم غوليدلي يو. بله دا چې انګريزان زموږ په معلوماتي سرچينو لاس وهنه کوي او مهم معلومات ورڅخه لري کوي. دوی کوشش کوي چې د افغانانو راتلونکو نسلونو څخه دا معلومات پټ وساتي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د ډیورنډ کرښې د اوږدوال، او پلنوالې پېژندنه

د ډیورنډ خط د افغانستان له شمال ختیځ څخه تر جنوب لویدیځ پورې ۱۹۲۰ کیلومتره اوږدوالی لري. خو د ډیورنډ په کرښه کې د افغانستان څخه موقتې جلا شوي د کوزې پښتونخوا سیمې د ځمکې پلنوالی نه ده معلوم شوی، ځکه چې ټوله جلا شوې سیمه د ډیورنډ کرښه بلل کېږي، او کوم سرحد نه لري، چې د کوزې پښتونخوا او پورتنې پښتونخوا تر منځ د سرحد نه شتون ددې لوی ثبوت دی چې دغه کوزه پښتونخوا او پورتنې پښتونخوا دواړه د افغانستان دي، او موقت وخت لپاره جلا شوي دي. ځکه که د دایمې وخت لپاره جلا شوي وای نو د دواړو پښتونخواوو تر منځ خو به سرحد معلوم وو. د انګریزانو هیئت او افغانستان استازي دواړه د ډیورنډ د تړون په وخت کې په دې یقیني وو چې دغه ځمکه د موقت وخت یعنې ۱۰۰ سلو کالو لپاره د افغانستان څخه جلا کوو. د وخت له پوره کیدو وروسته جلا شوي ځمکه خامخا بیرته له افغانستان سره یوځای کېږي. ځکه چې د دواړو سیمو( پاسنې پښتونخوا او کوزه پښتونخوا) اوسیدونکي د پښتانو په قابیلو پورې مربوط دي. نو ددې اړتیا نشته چې د ډیورنډ کرښې پلنوالی د اندازې له مخې څرګند کړو. ( د یورنډ کرښې نامعلوم پلنوالی د دې ثبوت بلل کېږي چې دغه کرښه د موقت وخت لپاره د افغانستان څخه جلا شوي او بیرته به له افغانستان سره یو ځای کېږي). د ډیورنډ تړون وخت هم یو څو لسیزې کاله مخکې پوره شوی دی. خو په اوس وخت کې هغه هوواد چې په ډیورنډ کرښه باندې کنترول لري ( له برتانوي هندوستان څخه جلا شوی هوواد  برتانوي پاکستان یا د انګریزانو قرارګاه)  ډیره هڅه کوي چې د ډیورنډ کرښې پلنوالی سرحد نړۍ ته څرګند کړي. او پورتنی یاد شوی ثبوت له منځه یوسي. له همدې امله کله د ډیورنډ په کرښه دروازې جوړوي، کله نور تاسیسات جوړوي، کله په پوله کې مخته راځي، کله د ډیورنډ پولې دغه غاړې ته عملیات تر سره کوي، او په اوس وخت کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

يې اغز سیم جوړولو کار پیل کړی. او داسې نور داسې کارونه تر سره کوي، تر څو چې افغان حکومت مجبور کړي چې له برتانوي پاکستان سره خبري وکړي. مثلاً د دروازو جوړول. که افغان حکومت ووايې چې دروازې دلته مه جوړوه ، نو برتانوي پاکستان وایې چې صلاحیت لرونکي هیئت یا په خپله ولسمشر دې له موږ سره په دې هکله خبري وکړي، که افغان ولسمشر یا د هغه صلاحیت لرونکی هیئت برتانوي پاکستان ته ووايې چې دلته دروازې مه جوړوه، نو پاکستان وایې چې څو کیلومتره یې شاته یا مخته جوړې کړم. نو که حکومت د کیلومتر یا اندازې په حساب سره کومه ساحه ور ته په کوته کړي، نو دغه د برتانوي پاکستان لپاره د ډیورنډ کرښې د پلنوالي معلوموولو ثبوت جوړیږي.

د حامد کرزي په وخت کې یې دروازو جوړولو په بهانه باندې د سرحد معلوموولو هڅې وکړې.

د اشرف غني په وخت کې یې د اغزن سیم جوړولو په بهانه د سرحد معلوموولو هڅې وکړې.

اوس د طالبانو په وخت کې برتانوي پاکستان وویل چې موږ ۹۴ فیصده د اغزن سیم جوړولو کار خلاص کړی دی او غواړو چې دا ۶ فیصده د طالبانو په موفقه خلاص کړو.

خبردار طالبانو دا شپږ فیصده کار سره موفقه ونه کړئ، ځکه چې دوی یې بیا د ثبوت لپاره ترې کار اخلې د مثال په ډول که یو څوک د تاسو ځمکه غصب کړي او بیا تاسو په نوي ځای کې د سرحد کېښودلو کې موفقه ور سره وکړی نو نوي فیصله زړه فیصله له منځه وړي او زړه ځمکه د ثبوت سره دوی ته پاتې کیږي، مطلب موفقه ددې ثبوت کیږي چې د مقابل کس له خوا د تا غصب شوي ځمکه ته خپله ځمکه نه بولي.

حل لاره

(c) ketabton.com: The Digital Library

که په افغان حکومت کې زور وي نو باید د برتانوي پاکستان هرې هڅې ته غاښ ماتونکی ځواب ور کړي. که په افغان حکومت کې زور نه وي نو باید د داسې کړنو په مقابل کې مخالفت څرګند کړي او نور چپ پاتې شي. لکه اوسمهال چې برتانوي پاکستان د اغزن سیم جوړولو کار پیل کړو. او افغان حکومت مخالفت څرګند کړو، او وې ویل چې دغه د اغزن سیم په رسمیت نه پېژنو د مخالفت له څرګندولو وروسته افغان حکومت چپ پاتې شو.

د ډیورنډ کربښې په تړون کې له افغانستان څخه کوزه پښتونخوا جلا شوه، او له برتانوی هند څخه کومه ځمکه جلا نه شوه، ددې رازونو پېژندنه!

افغانستان په هند کې د میشتو انګریزانو او روسې دواړو سره د همکاري تړونونه لاسلیک کړي وو. او یاد تړونونه ددې سبب شول چې افغانستان قربانې ور کړي. بلاخره افغانستان قربانې ور کړه، او بې طرفه سیمي د افغانستان څخه د موقت وخت یعنې د سلو کالو لپاره جلا شوي. او یو قوم ېې په دوه برخو وویشلو.

د افغانستان څخه موقت جلا کیدونکې د کوزې پښتونخوا سیمو د پښتانو ورونو شیکایتونه

د کوزې پښتونخوا سیمو اوسیدونکي په ظلم او زور د افغانستان څخه

(c) ketabton.com: The Digital Library

جلا کړل شوي دي، د ثبوت له پاره د معسودو ، وزیرو او نورو ټولو جلا شویو قابیلو هغه هڅې او کوښښونه یادولی شو چې د جلا کیدو سره یې کلک مخالف ښودلی وو. په دې اړه یې د ډیورنډ تړون لاسلیک کوونکي ښاغلی امیر عبدالرحمن خان او د ده څخه وروسته د افغانستان نورو پاچاهانو ته په پرلاپسې ډول شیکایتونه تر سره کړي وو. او د یو ځای کیدو غوښتنه یې کوله.

د وخت په تیریدو سره کوزه پښتونخو یا د ډیورنډ کرښې سیمې برتانوي پاکستان ته په لاس وراغلي. دا چې څنګه دا کار وشو نو لاندې مطلب ولولئ.

د برتانوي هندوستان ویشل کیدلو پیژندنه!

په هندوستان باندې د برتانوي انګریزانو امپراطوري وه. د ډیورنډ د تړون سره په یو وخت په برتانوي هندوستان کې د مسلمانانو او هندوانو تر منځ مذهبې اختلافونه ورځ تر بلې زیاتیدل، انګریزانو دغه اختلافونه لا پسې زیات کړل. انګریزانو غوښتل چې هندوستان ددې لپاره وویشل شي چې د ډیورنډ په تړون کې د افغانستان څخه جلا شوي ځمکه بیرته افغانستان ته په لاس ور نه شي، ځکه چې له ډیورنډ تړون څخه مخکې انګریزانو په لوی افغانستان باندې په پرلاپسې ډول څو ځلې یرغل کړي وو او څو ځلې یې غاښ ماتونکي ماتې منلي وه، ځکه انګریزان پوهیدل چې که جلا شوي ځمکه بیرته افغانستان سره یو ځای شي نو دوی په هڅڅ صورت سره افغانستان ته نه شي راتللی. همدارنګه انګریزانو غوښتل چې د افغانستان سره د ډیورنډ تړون هم مات نه

(c) ketabton.com: The Digital Library

شي، او جلا شوي ځمکه هم بیرته افغانستان ته لاس ته ور نه شي.

انګریزانو د دغه پلان عملي کولو لپاره د هند ویشل کیدل اړین وګڼل.

## د هندوستان ویشل کیدل او د پاکستان رامنځ ته کیدل

په برتانوي هند کې د بې اتفاقي لمن خواره شوه، د مسلمانانو او هندوانو تر منځ لانجې تر جګړو ورسیدې. مسلمانانو او هندوانو له انګریزانو څخه وغوښتل چې لانجه ورته حل کړي. انګریزانو دواړو خواوو تر منځ د سولې تمثل کولو مسلمانانو او هندوانو ته انګریزانو داسې فیصله وکړه چې فلانې فلانې سیمې د هندوانو شوې، او فلانې فلانې سیمې د مسلمانانو شوې، کوم مسلمانان چې د هندوانو سیمه کې استوګن وې د وخت په تیریدو سره به د مسلمانانو سیمو ته ځي او کوم هندوان چې د مسلمانانو په سیمو کې استوګن وې د وخت په تیریدو سره به د هندوانو سیمو ته ځي. او کشمیر یې په لانجه کې ورته پرېښوده، ددې فیصلې له وجې جنجال لا زیات شو ځکه په یوه نقشه کې یې سیمې سره جلا کړې او د بیلتون سبب جوړ شو. او بلاخره په ۱۹۴۷م کال کې د انګریزانو په پلان او لمسون د هندوستان هوواد په ۲ دوو برخو وویشل شو. چې مسلمانان په پاکستان کې او هندوان په هندوستان کې میشت شول. انګریزانو د کشمیر سیمه د دواړو هیوادونو تر منځ په جنجال کې پرېښوده.

## برتانوي پاکستان

له هند څخه جلاشویو سیمو ته پاکستان وایې او له هند څخه جلاشویو

(c) ketabton.com: The Digital Library

سیمو اصلي اوسیدونکو ته پاکستانیان وايې که هغو په هر ځای کې وي، که اوس په پښتونخوا کې استوګن وي بیا هم پاکستانیان دي.

خو د افغانستان د پورتنې پښتونخوا افغانان په غلطي کې د کوزې پښتونخوا پښتانو افغانانو ته پاکستانیان وايې. یا هم د کوزې پښتونخوا میشت پښتانه هم په غلطي کې خپل ځانونه پاکستانیان بولي، سره ددې چې ټول پښتانه افغانان دي، که هر چیرته اوسېږي بیا هم ټول پښتانه افغانان دي.

هدف دا چې هر پښتون افغان دی خو هر افغان بیا پښتون نه دی، ځکه چې د افغانستان ټولو اوسیدونکو ته افغانان وای،، او په افغانستان کې د پښتانو تر څنګ نور ډیر قومونه ژوند کوي چې هغو افغانان دي خو پښتانه نه دي. لکه تاجک، ازبک،ترکمن،هزاره،عرب او... د پښتانو او نورو قومونو د اتحاد لپاره د افغان کلمه استعمالیږي.

ای افغانانو د کوزې پښتونخوا خپلو پښتانو ورونړو ته پاکستانیان مه وایاست، ځکه هغوی خو د افغانستان مربوطو سیمو اصلی اوسیدونکی دي.

ای د کوزې پښتونخوا پښتانو ورونړو تاسو خپل ځانونه پاکستانیان مه بولی، ځکه له هند څخه جلاشویو سیمو اصلي اوسیدونکو ته پاکستانیان وايې او له پاکستان څخه جلاشویو سیمو اصلې اوسیدونکو ته بنګلادیشیان یا بنګلیان وايې.

ځکه چې پښتانه خو د پښتونخوا اصلي اوسیدونکي دي او پښتونخوا خو د افغانستان خاوره ده او له هند څخه خو نه ده جلاشوي چې د پاکستان خاوره وبلل شي. دا منو چې کوزه پښتونخوا د

(c) ketabton.com: The Digital Library

پاکستانیانو تر اشغال لاندې ده. خو پښتونخوا د پاکستان خاوره نه ده.

انګریزانو غوښتل چې د نړیوالو ګټو ساتلو لپاره یو مرکز ولري نو بیلاخره یې پاکستان خپل مرکز وټاکلو نو ځکه په آسیا کې د انګریزانو د کنترول یا رهبریت مرکز ته پاکستان وایې. پاکستان د انګریزانو له خوا جوړ شوي ده. نو ځکه د پاکستان داخلي او خارجي سیاست د انګریزانو له خوا کنترولیږي.

کله چې په ۱۹۴۷م کال کې پاکستان له هندوستان څخه ځمکه جلا کړه، او د جلا حکومت اعلان یې وکړو. نو د ډیورنډ د تړون له مخې د افغانستان څخه موقتې جلا شوي ځمکه یا کوزه پښتونخوا هم د پاکستان تر کنترول لاندې راغله.

دا چې څنګه په لاس وراغله نو لاندې مطلب ولوالئ.

د انګریزانو په پلان کوزې پښتونخوا ته د پاکستانیانو داخلیدل

که په لنډ ډول ووایو چې یو شمیر سیمې په ۱۹۴۷م له هندوستان څخه جلا شوې او د پاکستان په نوم یې د جلا حکومت اعلان وکړو، هغه وخت برتانوي انګریزانو پاکستان ته د کوزې پښتونخوا سیمو د نیولو پلان ور کړو. د پاکستانیانو او انګریزانو یو ګډ هیئت جوړ شو او د پلان له مخې د پښتون قوم د مشر سردار محمد ظاهر شاه بابا سره یې خبرې وکړې او هغه ته یې وویل چې هندوستان پر پاکستان حملې تر سره کوي، دا چې د پاکستان خلک مسلمانان دي او د افغانستان مربوط د کوزې پښتونخوا

(c) ketabton.com: The Digital Library

یا د ډیورنډ کرښې اوسیدونکي پښتانه هم مسلمانان دي، نو پاکستانیان د پښتونخوا سیمو د نیولو او کنترولولو اراده نه لرو، بلکې ستاسو سیمو یعنې د پښتونخوا په سیمو کې د لنډ وخت یا موقت وخت لپاره پناه اخیستلو ته ضرورت لري او د کشمیر په سیمه کې ستاسو مرستې ته اړتیا لري، د پاکستان او برتانوي انګریزانو ګډ هیئت زیاته کړه چې هندوستان د پاکستان په سیمو باندې بریدونه کوي او له دې بریدونو څخه د خوندې پاتې کیدلو لپاره پاکستانیان د پښتانو په سیمه یعنې په کوزه پښتونخوا کې پناه اخیستلو ته ډیره اړتیا لري. همدارنګه د کشمیر په سیمه کې د پښتانو ځوانانو مرستې ته اړتیا لري چې هند ته ماتې ور کړو چې بیا په پاکستانې مسلمانانو باندې حمله ونه کړي.

د پاکستانیانو او انګریزانو د ګډ هیئت په دې دوکه ورکوونکو خبرو باندې د لوی افغانستان ټول پښتانه او د هغوی پاچا سردار محمد ظاهر شاه خان دوکه شو، د پاکستانیانو سره د مخالفت پر ځای له هغوی سره تاریخې مرسته وکړه، همدارنګه افغان پاچاه خبر نه وو چې دغه هیئت کې انګریزان هم شتون لري او دغه هیئت انګریزانو د چل لپاره جوړ کړی ده.

خو په حقیقت کې انګریزانو د پاکستان او هندوستان تر منځ د خپلمنځې جنګونو شرایطو برابر کړي وو، او هندوستان حکومت د انګریزانو په امر باندې پر پاکستان حملې تر سره کولې. او د سردار محمد ظاهر شاه خان بابا د بادشاهې په وخت کې هم څو ځلې هندوستان په پاکستان باندې حملي تر سره کړې. افغان پاچا سردار محمد ظاهرشاه خان بابا د مسلمانانو سره د همدردي او د مسلمانانو سره د مرستې په خاطر د افغانستان مربوط د کوزې پښتونخوا سیمو پښتانو څخه وغوښتل چې پاکستانیانو ته پناه ور کړي، او د پښتانو ځوانانو څخه وغوښتل چې په ډیرې مېړانې سره د د هند پر وړاندې د پاکستانې وګړو څخه په کلکه دفاع وکړ، ځکه چې د پاکستانې وګړي مسلمانان دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ځينو سرچينو په وينا افغان پاچا د پاسنۍ يا پورتنۍ پښتونخوا سيمو لکه کندهار ، پکتيا ، خوست ، لوګر ، بدخشان او نورو ځايونو څخه په غير رسمي ډول باندې افغان ځوانان د اسلام په خاطر د هندوانو مقابلې ته او د پاکستانيانو مسلمانانو وګړو سره د مرستې لپاره په پټ ډول د هند او پاکستان سرحدونو ته لېږل شوي وو.

زموږ د کوزې پښتونخوا مېړانيو ځوانانو د خپل افغان پاچاه غوښتنه ومنله، او د اسلام او دين لپاره يې په ډيره مېړانه ، پښتو او غيرت سره پاکستانې وګړو ته سياسي پناه ور کړه او د هغو څخه يې په کلکه دفاع وکړه، او هندوانو ته يې غاښ ماتونکی ځواب ور کړو. کله چې هندوان پوه شول چې د افغانستان د کوزې پښتونخوا او پاسنۍ پښتونخوا مېړانې ځوانان د پاکستانې وګړو څخه ملاتړ کوي، او د کوزې پښتونخوا په سيمو کې پاکستانيانو ته پناه ور کړل شوه نو هڅڅ وخت يې پر پاکستان باندې د لوی ځمکنې بريد جورئت ونه کړو. ( نو په دې سره د پاکستان تاريخ هم د افغانستان د پاسنۍ پښتونخوا او د کوزې پښتونخوا د پښتانو ځوانانو له مېړانې شروع شو، ځکه چې تر دې وړاندې هندوستان د پاکستان ازادي نه منله او پاکستان ته يې داسې کلمه استعمالوله چې د دغه کلمه په پښتو ژبه کې د ياغۍ يا تښتيدلې مانا لري. يعنې پاکستان يې د ياغيستان په نوم يادولو، يعنې هندوانو ويل چې دغه سيمي له هند څخه ياغې شوي دي، او هندوستان به د انګريزانو په امر په پاکستان باندې وخت ناوخت حملې تر سره کولې. او د پاکستان مسلمانانو د کمزوري او په پاکستان کې د برتانيا امپراطورې راوستلو پلان يې درلود. چې پښتانو ځوانانو د هند د لويو بريدونو مخه ونيوله، خو برتانويان په دې بريالې شول چې په پاکستان کې د برتانيې امپراطورې را ولې).

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځينې افغانان وايې چې پاکستان خپل تاريخ نه لري، او د پاکستان تاريخ د افغانستان د کوزې پښتونخوا او پاسنې يا پورتنې پښتونخوا له مېړانيو ځوانانو له مېړانې څخه شروع شوی دی. افغانان رېښتيا وايې همداسې ده.

د افغانستان پاچا په دې پوه نه وو، چې د پاکستان او هندوستان تر منځ جګړې د انګريزان په واسطه رامنځ ته کېږي، ځکه چې انګريزانو دواړو خواوو تر منځ د سولې او اوربند تمثيل کولو.

له دې کبله افغان پاچاه ظاهر شاه د انګريزانو په دروغجنو خبرو دوکه شو.

د پښتون قوم اوسيدونکو يعنې پښتانو د مسلمانانو سره د همدردې له مخې د کوزې پښتونخوا په سيمو کې پاکستانيانو ته د لنډ وخت لپاره سياسي پناه ور کړه او د کشمير په سيمه کې د پاکستانيانو سره مرسته وکړه او هندوستان ته يې ماتې ور کړه، پښتانه خبر نه وو چې برتانوي پاکستان د لستوڼې مار دی.

پاکستانيان د برتانوي انګريزانو په مشوره په دې چل د پښتون قوم دکوزې پښتونخوا سيمو ته داخل شول. او د کوزې پښتونخوا سيمه يې په دې چل باندې اشغال کړه.

په خواشينې سره چې برتانوي پاکستان په ډيره سپين سترګې باندې د کوزې پښتونخوا سيمو د ملکيت دعوه وکړه.

يعنې د پښتون قوم اوسيدونکو د پښتانو په سيمو کې پاکستانيانو ته پناه ورکړه، خو اوس پاکستانيان په ډيره سپين سترګي باندې د پښتانو په سيمو باندې دعوي کوي، همدارنګه پاکستانيان د پښتانو وياړونه د ځان وياړونه بولي. حال دا چې پاکستانيانو د امريکايانو او برتانويانو سره يو ځای د مختلفو لارو څخه د کوزې پښتونخوا پښتانه شهيدان کړي

(c) ketabton.com: The Digital Library

دي، د هغوی په کورونو، وادونو، بازارونو، جنازو په مراسمو،مکتبونو،مدرسو، جوماتونو او په نورو ګڼې ګوڼې ځایونو باندې ېې بریدونه تر سره کړي دي. خو د منظور پښتون په رامنځ ته کیدو سره په دا ډول لویو بریدونو کې کموالی راغلی دی. خو د پښتانو هدفې وژنې لا دوام لري.

له هغه مهاله تر اوسه پورې د کوزې پښتونخوا سیمه د برتانوي پاکستان تر اشغال لاندې ده.

ددې لپاره چې د پاکستان حکومت دا لوی حقیقت پټ کړي، یو شمیر پښتانو ته په حکومت کې په دې شرط ونډه ور کړي ده، چې حقیقتونه پټ وساتي او د پاکستان حکومت په ضد له خبرو کولو څخه ډډه وکړي.

مطلب دا چې کوزه پښتونخوا د پاکستان او انګریزانو تر اشغال لاندې ده. نو د ټولو پښتانو دا دنده ده چې کوزه پښتونخوا هم له اشغالګرو څخه پاکه کړو.

ددې موضوع د ثبوت لپاره د پښتون قوم د پخوانیو مشرانو څخه پوښتنه وکړئ.

د کوزې پښتونخوا ټول پښتانه د انګریزان په خبرو دوکه شول. ځکه انګریزانو پورتنې او ښکتنې دواړو پښتونخواوو اوسیدونکو پښتانو ته ویل چې کوزه پښتونخوا به خامخا له پورتنې پښتونخوا سره یو ځای کېږي، او د پخوا په شان به لوی افغانستان بیا رامنځ ته شي، خو چې د ډیورنډ تړون ۱۰۰ سل کاله وخت پوره شي نو په دې چل سره انګریزان او پاکستانیان کوزې پښتونخوا ته داخل شول، کله چې د ډیورنډ کرښې ۱۰۰ سل کاله وخت پوره شو نو پاکستانیانو د برتانوي انګریزانو په کومک له پاکستان څخه ازادې غوښتونکي پښتانه په ډیر

(c) ketabton.com: The Digital Library

بې رحمه ډول په پرلاپسې ډول له منځه یوړل، نو ځکه کوزه پښتونخوا د برتانوي انګریزانو او پاکستانیانو څخه د خپلواکې په تر لاسه کولو کې پاتې راغلل.

د هند په مقابل کې د پاکستانیانو سره د کومک لپاره چې کومو پښتنو ځوانانو ګډون کړی وو. په دغه پښتنو ځوانانو کې د افغانستان د کوزې پښتونخوا د میرانشاء ، شمالې وزیرستان ، جنوبې وزیرستان ، ټل ، بنو ، دیره اسماعیل خان، پېښاور او... سیمو ځوانان ډیر بریالې او مېړانې وو. خو په دې مېړانیو او بریالیو کې د وزیرو او محسودو د قوم د مېړانو ریکارډونه هڅځوک هم نه شي ماتولی. انګریزانو چې د وزیرو او محسودو مېړانې ولیدلې نو د پښتانو له وزیرو او محسودو قوم څخه یې ډیره ویره پیدا شوه. نو ددې له وجې امریکایانو او برتانویانو د پاکستان حکومت په شمول د وزیرو او محسودو قومونه یې د ترهګرو په نوم ډیر زیات وځپل، هوایې او ځمکنې بریدونه په تر سره شول، جیلونو کې بندیان شول ، حتی تر دې چې ډیر په بې رحمه ډول یې په شهادت ورسول. چې دغه سلسله له هغه مهاله تر اوسه لا پسې روانه ده.

اوس هم د افغانستان په کوزه پښتونخوا کې د امریکایانو ، برتانویانو ، پاکستانیانو ، او یو شمیر نورو هغه هووادونو چې له پښتنو ویره لري، مشترک عملیات روان دي او د پښتنو د غیرتې قوم مهم او د سر کسان په بیلابیلو نومونو باندې په ډیر بې رحمه ډول، ځوراول کیږي، وهل کیږي، بندیخانو ته اچول کیږي، او حتی وژل کیږي.

د افغانستان مربوط په کوزې پښتونخوا کې هغه پښتانه چې د پاکستان حکومت نه منې او د پاکستان ښونخور حکومت په لاس د پښتانو له ځپلو پرده پورته کول غواړي. د پاکستان حکومت تر خپل واسه د دغو پښتانو په ځپلو لاس پورته کوي، او که د پاکستان حکومت د

(c) ketabton.com: The Digital Library

حق ویونکو پښتانو د زیاتولۍ له وجې د پښتانو په ځپلو باندې بریالی نشي نو وایې چې دا افغان مهاجرین دي، سم د لاسه یې پورتنۍ یا پاسنۍ پښتونخوا سیمو لکه ننګرهار ، پکتیا ، کونړ ، او نورو ته را استوي.

مقصد دا چې په کوزه پښتونخوا کې داسې شرایط راغلې دي، چې پښتانه خپل حق نشي غوښتلی. او که د خپل حق غوښتنه وکړي، نو د پاکستان حکومت په لاس ځپل کیږي. او د افغان مهاجرو په نوم تورن کیږي. سره ددې چې پښتانه د کوزې یا ښکتنۍ پښتونخوا او د برې یا پورتنۍ پښتونخوا اصلي اوسیدونکي دي. او مهاجر نه دي.

په اوس وخت کې هغه کسان چې د برتاوي پاکستان تر غلامۍ لاندې ژوند تر سره کوي. او پر برتانوي پاکستان باندې ویاړ کوي، هغه ریښتونې او میړانې پښتانه بلل کیږي.

خو په حقیقت کې هغه کسان چې د خپل غیرت ، غزت ، پښتو او افغانیت څخه تیریږي. هغه مړتد بلل کیږي.

اوسمهال د ډیورنډ کرښې یا د کوزې پښتونخوا هغه ۱۰۰ سل کاله موقت وخت مخکې پوره شوي دي. خو کوزه یا ښکتنۍ پښتونخوا یا د ډیورنډ کرښې پښتانه د افغانستان سره یو ځای شوي نه دي. او یو خپلواک حکومت هم نه لري، بلکې د برتانوي پاکستان تر کنترول لاندې د غلامي ژوند تر سره کوي.

خو په اوس وخت کې د کوزې پښتونخوا د پښتانو د حق غوښتلو لپاره د منظور پښتون په نوم باندې یو تکړه او زړور کس راپورته شوي دی، او ماشاءالله ښه ډیر ملاتړي هم لري دغه کس او د هغه ملګري د برتانوي پاکستان حکومت له خوا په پټ او ښکاره ډول په بیلابیلو نومونو وځپل شول بندیخانو کې بندې شول، وځورول شول او حتی تر

(c) ketabton.com: The Digital Library

دې چې ډیر په بې رحمه ډول ووژل شول. خو په خپله منظور پښتون او د هغه ملاتړ کوونکي زرور پښتانه وايې چې موږ به خامخا او په هر حالت کې به د پښتنو حقوق تر لاسه کوو.

د منظور پښتون په مشرتوب باندې دغه د پښتانو زړورې ډلې را اوچتيدو سره سم دغه ډله يو څه لاسته راوړنې هم ترلاسه له ځانه سره لري.

د مثال په ډول:- پخوا به د برتانوي پاکستان امريکا او برتانیې بی پيلوټه جنګې الوتکو او يا هم پيلوټ لرونکو جنګې الوتکو يا د دوی عسکرو به د ترهګرو په نوم د پښتون قوم په مشرانو ، کورونو ، وادونو ، جنازو ، بازارونو ، دوکانونو ، جوماعتونو ، مکتبونو ، مدرسو ، روغتونو او نورو عامه ځايونو باندې بريدونه تر سره کول، چې د منظور پښتون په مشري د پښتانو د حق غوښتلو ډلې په رامنځ ته کيدو سره په پښتانو باندې په دغه ډول لويو بريدونو کې کموالی رامنځ ته شوی دی. خو په پښتانو باندې هدفې بريدونه لا دوام لري.

زما په نظر منظور پښتون ډير ښه کار کړی دی. او ستاسو د نوموړي ملاتړ وکړی او خپل حق وغواړئ.

ای د کوزې پښتونخوا پښتانو وروڼو افغان حکومت ەڅه کوي چې جنګ تر ډیورنډ کرښي يا کوزې پښتونخوا تر سرحدونو ددې لپاره ورسوي، چې د کوزې پښتونخوا پښتانه هم را اوچت شي، او د برلين ديوال غوندې د دواړو پښتونخواوو تر منځ اغزن سيم وران کړي.
ښکته پښتونخوا او پورته پښتونخوا به سره يو ځای شي. پښتون به له پښتون سره يو ځای شي. او د پخوا په څيربه بيرته لوی افغانستان جوړ شي. تل دې وي آباد دې وي ژوندی دې وي دا لوی افغانستان. تل دې وي يو ځای دې وي آباد دې وي ژوندی دې وي دا غيرتې او زړور پښتون قوم. پياوړی+ښاغلی+توريالی+وفادار+ننګيالې= پښتون

(c) ketabton.com: The Digital Library

## له پاکستانیانو څخه د انګریزانو غوښتنه!!

انګریزانو له پاکستانیانو څخه وغوښتل چې له افغانستان څخه موقتي جلا شوي ځمکه یعنې کوزه پښتونخوا یا د ( ډیورنډ کرښه ) تر خپل کنترول لاندې راولې. خو پاکستانیانو د انګریزانو دغه غوښتنه رد کړو او ویې نه منله، او ویې ویل چې دغه د پښتانو سیمه د افغانستان یوه برخه ده، یعنې د افغانستان ملکیت دی. که په دغه ډیورنډ کرښه باندې څومره مصرفونه هم وکړو نو له موقت وخت پوره کیدو څخه وروسته بیرته له افغانستان سره یو ځای کیږي، او زموږ مصرفونه بې ګټې بلل کیږي.

خو انګریزانو پاکستانیانو ته وویل چې که چیري د ډیورنډ کرښه د پاکستان تر کنترول لاندې راشي نو موږ انګریزان حاضر یو چې د ډیورنډ کرښه د پاکستان په مستقیم کنترول کې وساتو. او ددې کار په مقابل کې پاکستان مجبور او مکلف دی چې په پاکستان او پاکستان ته نږدې سیمو کې په هر قیمت او هر حالت کې د برتانوي انګریزانو له ګټو څخه ساتنه وکړي.

نو په دې سره به پاکستان لوی هوواد شي، او یو پیاوړی حکومت به جوړ کړي، چې د هند مقابله وکړي.

پاکستانیانو د برتانوي انګریزانو غوښتنه ومنله نو په دې اساس د پاکستان او د برتانوي انګریزانو تر منځ تړون لاسلیک شو، چې د تړون له مخې د پاکستان لپاره د ډیورنډ کرښې د کنترول ساتلو مسوولیت انګریزانو پرغاړه اخیستی دی. او په مقابل کې پاکستان په سیمه کې په هر قیمت باندې به د برتانوي انګریزانو ګټې ساتي. نو په دې سره په آسیا کې د پاکستان هوواد د برتانیې د رهبریت مرکز وټاکل شو. یعنې په

(c) ketabton.com: The Digital Library

آسيا کې د انګليس يا برتانيې د رهبريت مرکز پاکستان دی. کله چې بريټانيه په ناټو سازمان ورګډه شوه نو اوس پاکستان د ناټو سازمان د ګټو ساتلو لپاره کار کوي.

انګريزان په دې پوهيدل چې د کوزې پښتونخوا پښتانه او د پاسنې پښتونخوا پښتانه سره يو ځای شي، او په دوی کې لږ هوښيار کس د بادشاهۍ لپاره را پيدا شي، نو داسې يو پياوړی حکومت به جوړ کړي چې په ټولې نړۍ سره به مقابله وکړي، او د انګريزانو ګټو ته به خطر جوړ شي. ځکه چې افغانستان د ګمرکې عوايدو ټولولو لپاره نړيوال ريکارډ هم جوړولی شي. او بله دا چې پښتانه ډير زړور او زيار ايستونکي تکړه خلک دي، د پښتانو زوړرتيا انګريزانو ته د خطر زنګ وو. نو ځکه يې له پاکستان سره تړون لاسليک کړو. او د رهبريت مرکز يې وګرځولو، ځکه په اوس وخت کې انګريزان د پورتنې پښتونخوا څخه د تللو څخه وروسته په کوزه پښتونخوا کې ځای پر ځای شول.

د پاکستان داخلې او خارجې سياست د برتانويانو په لاس کې ده، ددې لپاره چې په آسيا کې د برتانوي انګريزانو يا په اوس وخت کې د ناټو د رهبريت مرکز له منځه ولاړ نشي، نو د پاکستان خارجې سياست ته يې خاصه پاملرنه وکړه، د چين ، سعودې عربستان په شمول د عربې هووادونو ، ايران او يو شمير نورو هووادونو سره يې د پاکستان اړيکې جوړي کړي، د پاکستان او د يادو هووادونو تر منځ يې مشترکي ګټې رامنځ ته کړي، چې دغه مشترکو ګټو ياد هووادونه مجبور کړل چې د پاکستان ملاتړ وکړي، مثلاً ټول انګريزان د چين سره په کلک مخالفت کې دي، خو انګريزانو د پاکستان خارجې سياست داسې برابر کړئ دی چې پاکستان د چين سره ښې اړيکې لري، ځکه چې د دواړو هووادونو تر

(c) ketabton.com: The Digital Library

منځ  مشترکي ګټې موجودي دي، سره ددې چې پاکستان د برتانوي انګريزانو يا ناټو د رهبريت مرکز ده.

که په لنډيز سره ووايو چې له يوې خوا د چين او انګريزانو تر منځ ډير مخالفتونه شتون لري او د بلې خوا چين د خپلو ګټو لپاره د انګريزانو او ناټو د رهبريت مرکز يعنې پاکستان څخه ساتنه کوي.

له بلې خوا برتانويانو د پاکستان داخلې سياست ته هم کار کړي دي، يعنې د پاکستان د حکومت د ننګ لپاره د حقيقتونو پټ ساتل، همدارنګه يو شمير مذهبې مشران د پاکستان په داخل کې د پيسو په بدل کې د پاکستان د حکومت ناحقه کړنو ته مذهبې جوازونه ور کوي،

مطلب دا چې انګريزانو په آسيا کې د خپل رهبريت مرکز يا پاکستان د ساتلو لپاره اړين تدابير لري.

په اوس وخت کې د انګريزانو سره د ناټو تړون له مخې نور هوادونه هم يو ځای شوي دي چې مرکز ېې پاکستان ټاکلی دی او پاکستان د مسلمانانو په جامه کې د کفارو په ګټه کار کوي.

انګريزان د خپل کمربند څارل او کنټرول له کويټ هوواد او پاکستان څخه تر سره کوي، يو وخت انګريزانو وغوښتل چې دغه کمربند تر تاجکستان پورې وغزوي خو د تاجکستان حکومت له ناټو څخه امتيازات واخيستل او تاجکستان کې ېې ناټو ته هواېې هډې ور نه کړې.

همدارنګه ناټو غوښتل چې د افغانستان په سيمو دغه کمربند له نږدې کنټرول کړي نو ددې هدف لپاره ېې په داخل د افغانستان کې پنځه هواېې هډو جوړولو پلان برابر کړو خو کرزي او اشرف غني د انګريزانو دغه پلان ونه منلو. کرزي او اشرف غني د انګريزانو ددې پلان په مقابل

(c) ketabton.com: The Digital Library

کې خنډونه راپيدا کول.

بل خوا ناټو سازمان ويل چې د کرزي او اشرف غني حکومتونو ټول مصرف هم ناټو ور کوي خو خنډونه هم ناټو ته جوړېږي نو ځکه د کرزي اشرف غني او ناټو ترمنځ ژور اختلافات موجود وو.

د پښتانو په معلوماتي سرچينو کې د انګريزانو لاسوهنه

انګريزانو د پورتنۍ پښتونخوا او ښکتنۍ پښتونخوا په ملی ارشيفونو کې او د نصاب کتابونو کې او نورو معلوماتې سرچينو کې لاسوهنه کړي ده. او کوښښ کوي چې د پښتنو ځخه خپل اصليت هير کړي.

مثلاً د پورتنۍ پښتونخوا ځينۍ بې خبره پښتانه د کوزې پښتونخوا پښتانو ته پاکستانيان وای،، له بل اړخه د کوزې پښتونخوا ځينې بې خبره پښتانه خپل ځانونه پاکستانيان بولې او د پورتنۍ پښتونخوا پښتانو ته افغانان وای،، سره ددې چې دواړه افغانان دي.

له بل اړخه د پاکستان حکومت حق پرسته او ریښتيا ويوونکو پښتانو ته افغان ګډوال وایې. مطلب که ریښتيا خبره وکړي نو د پاکستان حکومت او ځينې نه خبره پښتانه درته افغان ګډوال وای،، سره ددې چې پښتانه د پورتنۍ پښتونخوا او کوزې پښتونخوا اصلي وسيدونکي دي. همدارنګه انګريزان غواړي چې د ډيورنډ تړون په اړه معلومات هم پټ کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

همدارنګه که چیري څوک په داسې موضوعګانو باندې خبري کوي نو نوموړي شخص ته ویل کیږي چې په سیاست کې لاسوهنه مه کوه. هدف دا چې بهرني استخبارات دا هڅې کوي چې افغانان له جاري سیاست څخه بې برخي تر څو روښانه راتلونکي ټاکلو کې پاتي راشي.

خو انګریزانو تاسو خبر نه یاست چې له تاسو څخه هوښیار او پوه افغانان شتون لري او خپلی موقیعی ته ګوري.

زه د کرن خان هغه سندره ډیره اورم چې وایې

دا مزی د تورخم تیره لکه خنجر

پري کړی یې په دوه ځایه ځیګر دی د پښتون

د ظلم په قانون

په پورتنې پښتونخوا کې د انګریزانو پلانونه:-

د افغانستان په خاوره د انګریزانو په کمربند باندې د روسانو د تیریدو هڅه!

(c) ketabton.com: The Digital Library

روسانو غوښتل چې د افغانستان شمال ته داخل شي او افغانستان جنوب له لارې ګرمو اوبو ته ورسیږي، نو ځکه یې په افغانستان کې روسي پلوی د خلک دیموکراتیک ګوند جوړ او واک ته ورسولو. خو جنګ لا دوام درلود نو ځکه یې پریکړه وکړه چې د فوځي طاقت له لارې ګرمو اوبو ته ورسیږي. خو روسان په دې بریالی نه شول چې د فوځي طاقت په زور د انګریزانو له کمربند څخه تیر شي. ځکه چې انګریزانو چلاکي وکړه هغه داسې چې افغانانو ته یې وویل چې روسانو په تاسو باندې یرغل کړئ ده. نو په دې سره انګریزانو خپل دفاعي کمربند دفاع په افغان ولس باندې وکړه. په دې وخت کې افغان پاچا ډاکټر نجیب روسانو ته وویل چې تاسو د افغان ولس سره مقابلې ته راغلي یاست او که ګرمو اوبو ته رسیدلو لپاره؟

نو روسانو وویل چې د افغان ولس سره موږ جګړې ته نه یو راغلي، بلکې موږ غواړو چې ګرمو اوبو ته ورسیږو. افغان پاچا ډاکټر نجیب روسانو ته وویل چې حل لار داسې ده چې تاسو واپس شئ او ماتې اعلان کړئ. کله چې د ګرمو اوبو پام بلې خواته شي نو تاسو به په ناڅرګنده توګه د افغانستان له خاورې څخه ګرمو اوبو طرف ورشئ. او نظامي تجهیزات هم افغان حکومت ته ورکړئ. نو روسانو ور سره ومنله. ډاکټر نجیب داسې پلان جوړ کړو. چې په لاره باندې افغان ځواکونو ته فوځي تاسیسات جوړ کړي. روسي فوځي موټرو به تر یو معلوم نقطې پورې د شپې لخوا مزل کوي. د ورځې لخوا به د افغان ځواکونو په قرارګاه کې وي. له دې قرارګاه څخه تر بلې قرارګاه به بیا د شپې مزل کوي. په همدې ډول سره به مرحله په مرحله د بلخ څخه تر کندهار مزل کوي. او په دې ډول سره به د انګریزانو کمربند به مات کړي. کله چې له دغه پلان څخه انګریزان خبر شول نو تنظیمي دوکاندري یې افغانستان کې رامنځ ته کړي. ګلبدین حکمتیار او نور تنظیمونه د ډاکټر نجیب د دغه جوړ شوي پلان خنډ شو. د بریتانیې د استخباراتو مشر کابل

(c) ketabton.com: The Digital Library

ته راغلی وو، حالات يې له نږدې څارل څو کاله يې د پول خيشتي جامع جوماعت کې د ملا امام تمثيل کولو.

پير محمد کاروان وايې

سپين لباس د پربښتو ابليس اغوستی

جاهلان وايې وارث د پيغمبر دی

چې په دې ګډوډيو کې هغه نظامي تجهيزات چې ډاکټر نجيب له روسانو څخه را ګرځولی وو. هغه هم ګلبدين حکمتيار د ناټو سازمان ته په لاس ورکړل.

په اخر کې د انګريزانو لخوا د افغان پاچا ډاکټر نجيب د مرګ پلان جوړ شو چې د انګريزانو دغه پلان د افغان طالبانو لومړی ځل واکمنی پر مهال تر سره شو، او افغان پاچا ډاکټر نجيب اعدام شو. خو د اعدام پړه يې بل چا په غاړه واخيسته. انګريزانو ويره درلوده چې کيدای شي چې ډاکټر نجيب د انګريزانو کمربند د شتون په اړه معلومات ولس ته معلومات ورسوي.

واخ وطنه

د ډاکټر نجيب په وخت کې د افغانستان په خاوره د روسانو د تيريدو لپاره بهانو يا پلمو شتون نه درلود. خو اشرف غني روسانو تيريدو لپاره بهانو يا پلمو شتون چل جوړ کړو. لکه د برق انتنونو جوړولو په بهانه په ملکې جامو کې تيريدل. که صلاح ورسره وي بيا هم ور سره غرض نشو کولی ځکه دوی به وايې چې موږ د برق جوړولو کاريګر او ساتونکي يو. د چا به فکر هم نه وي روسان به د افغانستان له حدودو تير شي او کمربند به مات شي. دغه پلان د اشرف غني وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**له ملا محمد عمر څخه د امریکا او ناټو ویره**

د افغان طالبانو لومړی ځل واکمنۍ پر مهال د ناټو او امریکا د طالبانو له حکومت څخه ویره څرګنده کړه چې ملا محمد عمر ته روسانو قناعت ور کړي د لارې د ور کړي پر سر موفقې ته نږدې شویدي نو ځکه یې په ۲۰۰۱م کال کې د مختالفو بهانو په اساس په افغانستان برید وکړو، د طالبانو حکومت یې نسکور کړو، د بون کنفرانس چمتو شو په دې کنفرانس کې د طالبانو حکومت پر ځای د حامد کرزي په مشري د دوه کلن موقت حکومت پر سر موفقه وشوه، دلته د ناټو سازمان غړي هوادونو ، او یو شمیر نو هوادونو پوځیان ددې کمربند ساتلو او دغه سیمه کې د فساد زیاتولو ، یهودیت ته خدمت کولو او خپل کلتور په موږ باندې تپولو لپاره راغلي وو. دغه یهودو کوشش کولو چې دغه جنګ ته یو پیچلی بڼه ور کړي چې خلک پوه نشي چې دا جګړه د کمربند ساتلو لپاره پرمخ وړل کیږي، په ځینو وختونو کې یې د خپلو مخالفینو سره هم مرسته کوله. تر څو افغانان پوه نشي چې دا جګړه ولی دوام لري. د کرزي صاحب دوره پکې تیره شوه کرزی پوهیده چې د جګړو دوام ته ناټو لار هواره کړي او ځینې وخت په دې جګړه کې کمه قرباني ناټو او زیاته قرباني بیا افغان ځواکونه ور کوي خو په دې نه پوهیده چې ناټو ولی داسې کار کوي. خو اشرف غني د ناټو په پلان باندې سم پوه وو. ناټو په افغانستان کې ټولو کسانو ته ونډه ور کوله، خو طالبانو او حکمتیار سره یې دوښمنې اعلان کړه او بې ونډې یې پرېښودل چې له کبله یې حکمتیار یوه نیمه لسیزه کاله جګړه وکړه او طالبانو دوه لسیزي کاله د حکومت سره جنګ وکړو. کله چې دوی د راتګ دوه لسیزي کاله په پوره کیدو شوي نو انګریزانو ویل چې اشرف غني د ناټو کمربند په داخل کې پروژې رامنځ ته کړي او د کمربند لپاره یې خاطر جوړ کړو، په دې وخت کې د قطر تړون وشو چې د اشرف غني په مشری حکومت پر ځای د طالبانو حکومت سره د ۱۷ ولایتونو د ور کړي پر سره موفقه وشوه او ۱۷ ولایتونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ګډې افغان حکومت ته ور کړل شول. نو دا فیصله د هند د فیصلې سره ورتاوالی درلو چې هند ګډې وویشلو، نو اشرف غني ټول ولایتونه طالبانو ته ور کړل. خو ملې اوردو قرباني ور کړه او رنګه شوه.

دا د انګریزانو پلان وو چې په یوه نقشه کې دوه حکومتونه رامنځ ته کړي، یو جمهوریت او بل امارت، دواړه یو د بل ضد، نو دا موضوع د افغانستان ویش پلان وو.

افغان طالبانو هم د اشرف غني لخوا جوړوشویو پروژو لکه ټاپې کاسه زر او.. د پاتي کار تر سره کولو ته دوام ور کړو. ډیر ښایسته پلان خو چې په دې هم پوه شو چې ددې پروژو تر شاه د څه شي هدف ده. هغه هدف ته هم ځانونه ورسوو.

که چیري افغان طالبان د انګریزانو ګټو ته خاطر جوړوي او انګریزان په دې پوه شي. نو د طالبانو پر ځای د نورو کسانو سره د واک پر سر موفقه امکان لري.

## د قطر تړون

د قطر تړون یوه اوږده پروسه درلوده چې خبري اتري په څو پړاوونو کې تر سره شوي، د طالبانو او ناټو له خوا د خبرو لپاره په هر پړاو کې جلا جلا کسان ټاکل شوي وو، د یو پړاو ګډونوال له پخواني پړاو خبرو اترو څخه خبر نه وو، ځکه د دغه تړون ټول معلومات aie ته ونه رسیدل. خو ناټو د قطر تړون په اړه یو R4 راپور له خپلو متحدینو سره شریک کړو. چې دغه راپور aie ته په لاس راغلی ده. دلته صرف د دغه راپور هدفونو څخه پرده اوچتوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## هدف

## د قطر په تړون کې ګټه چا وکړه؟

ځواب د قطر په تړون کې ګټه انګریزانو وکړه، ځکه افغانستان ی‌ې وتړلو، هغه داسې چې

اول

ه‌ځچاته اجازه نه ور کوو چې د افغانستان خاوره د ناټو او امریکا په خلاف استعمال کړي. ددې جملې تر سرلیک لاندې افغان طالبان په ناپوهۍ کې د ناټو کمربند ساتي.

که افغانستان د شانګهای سازمان ته د لارې د ور کړې خبره کوي نو انګریزان وای‌ې چې د قطر تړون مه ماتوه، ځکه طالبانو دا لاسلیک کړی ده چې د افغانستان خاوره به د چا په ضد نه استعمالوي، نو د لارې ور کړه خو په ښکاره د ناټو او امریکا په ضد ده.

دویم

شانګهای ته د لارې د نه ور کړې په بدل کې طالبانو ته کوم څه نه دي ور کړل شوي. سره ددې چې د کرزي او اشرف غني په وخت کې شانګهای ته د لار نه ور کولو په بدل کې مکافات ور کول کیدل یعن‌ې د ټول حکومت کلن‌ۍ مصرف‌ې بودیجه ی‌ې د مرستې په نوم ور کوله، هغه خو لا پری‌ږده چې دا څه وخت مخک‌ې امریکا اعلان وکړو چې افغانستان سره د مرستې پیسې نور نه ور کوي، خو طالبانو کوم غبرګون ونه ښودلو، پوهی‌ږی دا د څه شي پیسې دي، د شنګهای سازمان ته د افغانستان د خاورې څخه د لارې نه ور کولو د مکافاتو پیسې دي. که چیرې په ۲۰۰۳م کال کې حامد کرزي ویلي وای چې موږ شانګهای لار هم نه ور کوو، او له

(c) ketabton.com: The Digital Library

ناټو او انګریزانو څخه یې مکافات هم نه غواړو، خو ناټو دې له افغانستان څخه ووزي. نو ددې کار امکان سل په سلو کې وو.

پوهیږی خبره ددې نه ده چې د افغانستان له خاوري به په امریکا یا نورو ځایونو باندې به برید وشي، بلکې خبره دا ده چې د شانګهای سازمان ته د افغانستان د خاوري څخه د لارې د ور کړې مخنیوی وشي. او دا کار په داسې ډول وشي چې افغانان په دې راز پوه هم نه شي، دا د انګریزانو هدف دی.

## دریم

## د افغانانو خپل منځې اختلافات ته لاره هوارېدل

انګریزان کوښښ کوي چې د طالبانو او افغان ولسونو تر منځ خپلمنځي اختلافات زیات کړي. هغه داسې چې د طالبانو د نه معلوم بهرنې سیاست له وجې په طالبانو باندې اقتصادي بندیزونه لګیدلی شوي دي، اوس نو ددې بوج یې په ولس اچولی ده. یعنې ګمرکونه یې په نړیوال ریکارډ زیات کړي دي. او د پاکستان او نورو ملکونو نفوذی کسان د افغانستان په ګمرکونو کې پاکستان او نورو ملکونو ته د ګټو فیصدې ور کوي. مطلب عام ولس ته یې د توکو نرخونه ډیر لوړ کړي دي چې د اختلافاتو رامنځ ته کیدو سبب ګرځیدلی شي، دا پلان داسې ده چې عام ولس ډیر غریب شي او لانور هم د غلامې په زولنو کې کلک شي. کله چې افغان طالبان د ناټو کمربند ماتولو پلان جوړوي نو افغان ولس به د مجبورۍ له وجې د مخالفو ډلو ملاتړ وکړي او په دې ډول سره به د افغان طالبانو نظام راپرځولو کار اسان شي دا د انګریزانو پلان ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## څلورم

### د منظمې افغان ملی اوردو نه شتون داد تر لاسه کول

انګریزان کوښښ کوي چې افغانستان یوه منظمه افغان ملی اوردو ونه لري، ددې لپاره د تیر جمهوري حکومت د اوردو سرتیرو او کارمندانو او د اوسني امارتی حکومت کارمندانو د اختلاف ټکو زیاتوالی ته لمن وهي. مثلاً د امارت اوسنی پالیسې داسې ده چې چا چې تیر حکومت نظامې برخه کې کار کړی وي نو هغوی ته وظیفه نه ور کوی.

پوهیږی دا کار ولی کیږي. ځکه د تیر حکومت نظامیان روزل شوی دي او ثبت شوی دي، که دوی ته وویل چې خپلو وظیفو ته راشئ نو په ۷ ورځو کې ټوله اوردو جوړیدلی شي، یوازې به مهمات ورته برابر کړي. د تیر جمهوري حکومت نظامیانو ته د وظیفې نه ور کړي هدف داسې ده چې هغه پخواني افغان ملی اوردو بیرته جوړه نه شي. ځکه د هغې افغان ملی اوردو په جوړولو باندې شل کاله کار شوي وو.

په افغانستان کې یعنې د انګریزانو په کمربندي سیمه کې د منظمې افغان ملی اوردو او روزل شویو کسانو شتون انګریزان د خپل ځان په توان بولي نو ځکه انګریزان هر ډول کوشش کوي چې په افغانستان کې افغان ملی اوردو بیرته جوړه نشي، او په افغان طالبانو باندې یا د نورو ممکنو لارو د پخوانیو روزل شویو کسانو د له منځه وړلو پلان جوړې. د بایومتریک ماشینونو په سبب باندې د روزل شویو افغانانو په اړه معلومات د ناټو سره شته. دا د انګریزانو اصلې هدفونه دي.

ای طالبانو د اشرف غني حکومت یا له هغه څخه وراندې روزل شویو کسانو ژوند ژغورلو لپاره سم پلان جوړ کړی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

همدارنګه د بایومتریک ماشینونه د ناټو سره وصل دي او بایومتریک شویو کسانو معلومات هم ناټو سره په غیر اختیاري او اوتوماتیک ډول شریک کيږي، په دې سره زموږ د نظامیانو شمیر او معلومات دوی ته معلومیږي. د بایومتریک ماشینونه د خیالي سرتیرو او خیالي ماموړینو له منځه وړلو په هدف د ناټو لخوا برابر شوي وو. خو اشرف غني د کارونو د نظم لپاره تاید کړي وو. او ټول اداري سیستم هم د اشرف غني لخوا کمپیوټري شو.

انګریزانو د حامد کرزي په وخت کې هم د افغان ملی اوردو له جوړولو سره مخالفت ښودلو او ټولو نظامیانو د شمیر پلان ی‌ې 75 زره وو خو د ښاغلی کرزي په هلو ځلو د افغان ملی اوردو شمیر تر څوسوو زرو ورسید.

پنځم

د انګریزانو اقتصادي ګټو زیاتیدل

ددې لپاره چې افغانستان د شنګهای سازمان ته لار ور نه کړي په دې باندې د انګریزانو زیات مالی او ځاني مصرف راتلل. لکه د ناټو عسکرو مرګ ژوبله د ناټو عسکرو تګ راتګ خوراک څښاک هوای‌ې ملاتړ مصرفونه افغانستان کلنۍ بودیجې ور کړه او... خو طالبانو د افغانستان خاوره د ناټو پرخلاف د اجازه نه ورکولو  تر نامه لاندې موضوع لاسلیک سره د ناټو ډاډ حاصل شو او ددې په مقابل کې د ناټو د مکافاتو ور کولو مصرف هم ناټو ته وسپمول شول. او د افغانستان په خاوره باندې د ناټو کمربند ساتلو مسولیت افغان طالبانو ته وسپارل شو. نو ځکه افغان طالبان د ناټو کمربند اصلي ساتونکي بلل کيږي. خو افغان طالبان د ناټو د کمربند شتون او ساتلو موضوع باندې لا خبر هم نه دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دې ته واۍ چې سياست چې خپل فوزي کمربند په خپل دوښمن باندې ساتي، او مکافات هم نه ور کوي. په ښکاره ور سره مخالفت هم څرګندوي.

له اشرف غني او کرزي څخه د امريکا او ناټو ويره

ناټو او امريکا د کرزي او اشرف غني له حکومت څخه ويره درلودله چې هسې نه چې شنګهای سازمان ته لار ورکړي، د همدې هدف لپاره ۍې د جنګ دوام ته شرايط برابر کړي وو، او سوله ټينګه نه شوه، او افغانستان کې يو قوي حکومت رامنځ ته کيدو سره هم انګريزان مخالفت لري ځکه چې انګريزانو په ايران کې يو قوي حکومت جوړ کړی وو چې هغه حکومت بيا د انګريزانو سره دوښمنی شروع کړه او د ايران څخه د انګريزانو د تختيدو سبب وګرځيد، سره ددې چې هغه حکومت د انګريزانو لخوا جوړ شوی وو.  نو ځکه انګريزان په افغانستان کې داسې حکومت جوړوي چې انګريزانو کومک ته په مستقيم ډول اړتيا ولري، همدارنګه انګريزان موږ ته افغانستان نه آبادوي بلکې د آبادې تمثيل کوي. نو ځکه کرزي ويل چې ناټو له ليوانو سره يو ځای ښکار کوي او د شپون سره هم غمشريکې کوي،

د حامد کرزي بله خبره هم ريښتيا وه چې د سولې کيلې د ناټو امريکا او پاکستان په لاس کې ده، ځکه پاکستان هم د ناټو ملکې غړيتوب کې وو. انګريزانو  فکر کولو چې افغان حکومت به ټوله فکر جنګ ته شي. له اشرف غنې څخه د انګريزانو ډيره زياته ويره کيده، ځکه اشرف غني د ګډو ګټو رامنځ ته کولو هڅه کوله او ويل ۍې چې افغانستان يو څلور

(c) ketabton.com: The Digital Library

لاري دی، په څينو پروژو ې‌ې کار پيل کړو، لکه ټاپي پروژ،کاسه زر،ګازو پيپلين،ريل‌ګادي پټلي ، برق او... څکه چې دا پروژې په هغه سيمو باندې وي چې هند سمندر ته لار په تيريدلی شي، مطلب د افغانستان او پاکستان تر کنترول لاندې ټولو لار تيريدونکو سيمو کې دا پروژې وي. امريکا او ناټو دا فکر کولو چې کيدای شي چې دا پروژې په اصل کې د شن‌ګهای د لاري مثال ولري، ناټو او امريکا پري خبر هم نه شي جنګ به اصلې هدف يعنې تر نړيوالو ګټو ورسی‌ږي، او په نړيوالو ګټو به د شانګهای او ناټو سرحد ختم شي او شانګهای به نړيوالې ګټې په خاطر کې واچوي يا به شريکت پکې واخلې نو دا پروژې کيدای شي هسې بهانه وي، نو څکه انګريزانو په اشرف غني باندې د فشار لپاره له ډاکټر عبدالله څخه کار واخيستو، همدارنګه د جنګ د شيدت پلان يې جوړ کړو. د اشرف غني او عبدالله د اختلافاتو څخه په ګټې اخيستني سره واک غلو ته په لاس ور کړل شوه، چې له سببه ې‌ې اداري فساد تر دې حالت ورسيد چې په پوستو کې ژوندې عسکر په خوب ويده خرڅيدل. او په اشرف غني باندې د ناکامی کوداتا ه‌څه هم وشوه. څکه انګريزانو ويل چې افغانستان او پاکستان کې خو د بری‌ښنا بندونه جوړيدلی شي نو ولې له تاجکستان څخه په دغو لار تيريدونکو سيمو ته بری‌ښنا ور کول کی‌ږي. سره ددې چې تاجکستان باندې د روسی‌ې امپراطورې ده او ياد ه‌وواد د شانګهای سازمان غړيتوب هم لري.

د اشرف غني دا خبره هم ری‌ښتيا وه چې موږ به د جوماعت او د دولت تر منڅ واټن لري کوو او دواړه به يو ځای کوو. دا کار داسې کيدو چې جنګ د افغانستان له نقشي ووزي او هغه ه‌ووادونه چې د افغان طالبانو او افغان حکومت تر منڅ اختلافات را پيدا کوي د هغوی فکر به هغه بلې خوا ته شي او طالبان او حکومت به سره يو ځای شي. او د دايمي سولې سبب به شي. ډاکتر عبدالله ددې پلان خنډ شو څکه چې عبدالله د واک ت‌ږی وو او واک ې‌ې نيم کړو، انګريزانو هم اشرف غني ته وويل چې که

(c) ketabton.com: The Digital Library

د عبدالله سره جوړه ونه کړي نو د کلنی بودیجې په ورکړه کې به څنډ راشي. له واک ویش څخه ورسته عبدالله په دې کې لانجې جوړولې چې دغه پروژې دې په دغه ولایتونو او دغه ولایتونو تیرې شي، ډاکټر عبدالله هڅه کوله چې پروژې د دری ژبانو اوسیدونکو له ولایتونو تیري شي، له بلې خوا اشرف غني له دری ژبانو سره مشکل نه درلودل یوازې ېې غوښتل چې جنګ د افغانستان له خاورې وباسې نو په دې سره د افغانستان په تاریخ کې ډاکټر عبدالله یو لوی درد بلل کېږي.

اخ ءوواده بیا زر کاله شاته پاتې شوي.

او طالبانو ته اوس په کار دي چې سره ددې چې د اشرف غني حکومت سره اختلافات ډیر زیات وو خو اوس ېې باید غیرت نورو ءووادونو ته ور نه کړي. د اشرف غني حکومت د انګریزانو سره د سیاست له مخې جنګ کولو او د انګریزانو د بربادي هڅه ېې کوله او افغان طالبانو بیا په مستقیم ډول د انګریزانو سره جنګ کولو او د انګریزانو د بربادي هڅه ېې کوله خو انګریزانو بیا د اشرف غني حکومت او افغان طالبانو دواړو تر منځ د جنګ شرایط برابر کړي وو او د دواړو د کمزورتیا هڅه ېې کوله. له بلې خوا انګریزانو د داسې پلان په عملي کولو باندې کار کاوه چې په افغانستان کې د جنګ دوام لپاره د شانګهای سازمان او اسلامې ءووادونو ګډو ګټو همکاریو سازمان هم ونډه واخلي او د اشرف غني حکومت سره جنګیدونکو مخالفو ډلو ملاتړ وکړي. چې په دې سره به د اشرف غني حکومت د جنګ مصرف د ناټو سازمان ور کړي. او د مخالفو جنګیدونکو ډلو مصرف به د شانګهای او اسلامې ءووادونو ګډو ګټو همکاریو سازمانونه ور کړي. او د جنګ دواړه طرف قربانیان به هم پښتانه ، افغانان وي. د اشرف غني حکومت ټول فکر به ځګړې ته شي او د کمربند ماتولو پلانونه به ورڅخه پاتې شي. د افغانستان شته زیرمې به هم چور شي. مذهبې مقدسات لکه جوماعت مدرسه ملا امام طالب نومونو به مسلمانانو ته د پامه ور بد کړي. او د افغانستان جګړې ته یو

(c) ketabton.com: The Digital Library

پرمختللی بڼه ور کړي. دا د انګریزانو هدفونه او په افغانستان کې د وینو تویدو سبب وو. خو اشرف غني کوشش وکړو چې افغان ملي اوردو له تعرضي حالت څخه دفاعي حالت ته تبدیلولو باندې د جګړو شیدت کم کړي. او د نړۍ مشهورو اسلامې مرکزونو څخه د افغان حکومت پر وراندې د ناروا جګړي فتواګانو په سبب غوښتل د اسلامې هوادونو ګډو ګټو همکاریو سازمان د افغانستان په جګړه کې ګډون ونه کړي. څکه افغان جګړه د دوه سازمانونو یعنې ناټو او شانګهای تر منځ وه. او د دریم سازمان د ګډون مخه ونیول شي. له بلې خوا انګریزانو په مستقیم ډول هم په خلکو حملې کولې او د سر سړیو د وژولو هڅه یې کوله.

کله چې انګریزان پوه شول چې اشرف غني د جګړې شیدت کموالی تر څنګ د ناټو کمربند ماتو لپاره هڅو ته لا دوام ور کوي. نو د واک پر سر یې افغان طالبانو سره هوکړه وکړه.

خو انګریزان په دې پوه نه دي چې طالبانو ته به موږ د ناټو او شنګهای په اړه معلومات ورکړو. تر څو سمو پریکړو ته لار ورته هواره شي. دا زموږ وظیفه ده.

ای افغان طالبانو هغه اشرف غني بیرته راولی چې په ریښتونې ډول جنګ له هوواده وباسي او شانهای ته د لار د ورکړي پلان درته عملې کړي چې په افغانستان ، ایران ، عراق ، او سوریه کې د نورو وګړو د مرګژوبلې مخنیوی وشي. د نړۍ اقتصادي توازن برابر شي. او افغانستان باندې د کمرګې لارو دروازې خلاصې شي. چې افغانستان آباد شي. خو داسې کار هر څوک په منظم ډول نه شي کولی څکه چې افغان پاچا امیر عبدالرحمن خان هم دغه کار کولو چې د نوموړی د کمو تیروتنو له وجې دیورنډ کرښې اړوند سیمي رامنځ ته شوي. همدارنګه شانګهای ته د

(c) ketabton.com: The Digital Library

لاړي د ورکړي هدف لپاره د افغانستان پایتخت هم له کندهار څخه کابل ته انتقال شوی وو. ځکه د بلخ او کندهار تر منځ کابل منځنی او مهمه نقطه بلل کېږي. اوسمهال شانګهای ته د لار ورکړي پلان په داسې ډول باید عملي شي چې افغانستان ته پکې بیا زیان ونه رسېږي. او د طالبانو په حکومت بیا هم د ناټو او امریکا لخوا برید ونشي. ځکه چې د افغانستان هوایي حریم اوس د ناټو او امریکا لخوا څارل کېږي، دا کار اشرف غني کولی شي چې نه سیخ وسوځوي او نه کباب وسوځوي.

د انګریزانو هغه وړاندوینې یا اټکلونه سم وو چې اشرف غني غواړي چې جنګ د افغانستان له خاورې وباسې او په دغه کار باندې د ناټو او امریکا ګټو ته خاطر پېښېږي.

رېښتیا هم د اشرف غني رېښتونې هڅه دا وه چې جنګ تر هند سمندره ورسوي، او رېښتونې سولې ته هوواد ورسوي نو د همدې هدف لپاره یې د واک په لومړیو ورځو کې د شنګهای غړو هوادونو ته سفرونه وکړل. دا چې انګریزان په دغه پلان پوه شول نو د نوموړي پلان یې خراب کړو.

انګریزان هم هندوستان ته د شرکت په نوم ننوتلی وو. ځکه یې ویره درلوده چې کیدای شي د روسې فوزي جنرالان د شرکتونو او پروژو په بهانه د افغانستان له لاري د بلوچستان تر ګوادر بندر پورې ورسېږي. په نړیوالو ګټو باندې به د روسې او ناټو تر منځ سرحد له منځه ولاړ شي.

یا به نړیوال جنګ پیل شي یا به شانګهای په نړیوالو ګټو کې ګډون وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د قطر تړون له مخې افغان طالبانو ته ولې واک ورکړل شو

دا چې ناټو او امریکا له اشرف غني څخه په تشویش کې وو، نو په دې حالت کې طالبانو ویل چې له امریکا سره خبري کوو، یو څه وخت وروسته امریکا او طالبان په قطر کې خبرو ته سره کیناستل، طالبانو غوښتل چې امریکا له افغانستان څخه ووځې او واک طالبانو ته وسپارل شي، امریکایان پوه شول چې د طالبانو په واسطه د دوی ګټې ساتل کیدای شي. نو واک یې طالبانو ته ور کړو، او د افغانستان لپاره یې د ویشل کیدو پلان جوړ کړو، هغه داسې چې په یوه نقشه یې 17 ولایتونه د طالبانو امارت ته ور کړل او 17 ولایتونه یې جمهوریت ته ورکړل. د امارت او جمهوریت د لاکمزورتیا ، ورانۍ ، وینو تویولو لپاره یې د دواړو تر منځ د چټک او لوی جنګ پلان هم جوړ کړو. خو اشرف غني د انګریزانو په پلان پوه شو او ټول ولایتونه یې مقابل دوښمن یعنې طالبانو ته وسپارل او په یوه نقشه کې د دوو حکومتونو مخه ونیول شوه.

د قطر تړون له مخې افغان طالبانو ته د 17 ولایتونو واک سپارل د انګریزانو په ګټه وو. خو اشرف غني ورته 34 ولایتونه ور کړل.

د افغان طالبانو دویم ځل واکمنې

افغان طالبان وایې چې موږ ناټو او امریکا ته ماتې ورکړه د افغانستان څخه وتښتیدل، د ناټو اشغال مو ختم کړو، افغان ولس ته مو سوله راوړه، او د شل کلن جنګ ګټونکي موږ یو.

ناټو خپلو متحدینو ته وایې چې د افغانستان په خاوره د ناټو کمربند

(c) ketabton.com: The Digital Library

ساتلو مسولیت افغان طالبان ته وسپارل شو، افغان طالبان هڅچا ته به اجازه ور نه کړي چې د افغانستان خاوره د ناټو او امریکا په ضد استعمال کړي تر سرلیک لاندې د ناټو کمربند ساتونکي بلل کېږي. افغان طالبان د ناټو لپاره کمربند ساتې او مصرف يې د افغان ولس څخه اخلې. د ناټو لخوا افغانانو ته د مکافاتو ورکولو څنډ له وجې راتلونکي ناورین مسولیت پړه هم په افغان طالبانو واچول شوه. ددې کمربند ساتلو مصرف د ناټو لپاره وسپمول شو. ددې لپاره چې نړیوالو دغه موضوع ته پام نشي. نو د طالبانو رسمیت پیژندلو او اړیکو ساتلو په اړه باید اختیاط وکړو. ناټو خپلو متحدینو ته وایې چې د شل کلن جنګ ګټونکي موږ یو.

د شانګهای سازمان خپلو متحدینو ته وایې چې افغان طالبان په افغانستان کې د ناټو د کمربند ساتلو لپاره د ناټو غیر رسمي فوځ بلل کېږي. نو څکه يې د رسمیت پیژندلو او  هغوی سره اړیکو پاللو کې اختیاط وکړئ.

زه یعنې aie وایم چې د ټولو اړخونو پټ ریښتوني استخباراتي معلومات به زه څرګند کړم. او فیصله به لوستونکي وکړي، خدای ج دې وکړي چې په دغه تریخ حقیقت ویلو باندې خپه نشئ. دغه حقیقت څکه څرګندم چې دغه بهرنۍ تهمیل شویو جګړو کې نور بدنام او د تروریستانو په نوم نور قرباني نه شو. د ملا امام او نورو مقدساتو نومونه هم نور بدنام نشي. د دوښمن هدف تشخیص کړو او حل ورته ولټوو. جګړه تهمیل شوي او پکې وژل کېږي او بدنامېږي مسلمانان دا حالت د زغم نه دی. خپلو افغان قدرونو ته موقعی ور کړو او د پوهې څخه يې استفاده وکړو. ددې جګړو حل په زور نه کېږي بلکې دماغ غواړي که چیري په افغانانو کې ستونزه وي نو باید هغوی ته مهم معلومات ورسوو

(c) ketabton.com: The Digital Library

باید خپلو تیروتنو ته متوجي شو او خپلې غلطي ومنو یو او بل ومنو د غلطیو د اسلاح لپاره باید کار وکړو، د هغو کسانو چې موږ ته مهم معلومات را کوي، د هغوی د وژلو هڅو پر ځای باید د هغوی قدر وکړو. ځکه څوک چې د کمربند ماتولو هڅه کوي یا دغه معلومات نورو افغانانو رسوي، موږ ته د غدار په نوم راپیژندل کیږي او موږ یې د وژلو هڅه کوو. په داسې حال کې چې هغه ریښتونی اتل وي، د داسې کړنو مخه باید ونیول شي. د روزل شویو کسانو ساتنه وکړو. ځکه چې زموږ له کړنو څخه زموږ دوښمنانو ته ګټه ونه رسیږي. زموږ برحاله حکومت زموږ لپاره یو ښه حکومت جوړیدلی شي خو چې معلومات ورته ورسیږي او خپلو غلطیو اسلاح لپاره کار وکړو، ځکه زورواکې هم نشته او پلان سمولو او ګټورو پروژو عملي کولو لپاره بهترین وخت ده. ددې حکومت بربادي زموږ بربادي ده ځکه خدای مه کړه که دا حکومت راوپرځیږي نو د جوماعت مدرسي ملا امام او نورو اسلامې مقدساتو نومونه به لانور ور سره بدنام شي.

خبر دار افغانانو په ناټو باندې هڅځ وخت باور ونه کړي ځکه هغه کسانو ته واک ور کوي چې په پوهې یا ناپوهۍ کې د انګریزانو ګټو ساتلو لپاره کار کوي کله چې خپله لاره بدلوي نو انګریزان یې له منځه وړي او واک نورو ته ور کوي.

ای افغان طالبانو د امکان تر حده هڅه وکړی چې د ناټو اړوند فرعونیانو ته هواې ادې ور نه کړی، ځکه هواې ادې ددې کمربند ساتلو د کنترول مرکزونه بلل کیږي، جګړه لا شیدت ور سره پیدا کوي. ای افغانانو د داسې جاهلو فرعونیانو سره مخامخ یو چې هڅځ ډول رحم نه لري. هغه فرعون خو به نارینه وژل او ښځې به یې ژوندي پریښودلی. خو دغه فرعونیان بیا دواړه وژني. او قتل عام تر سره کوي په وادونو ، جنازو ، جوماعتونو ، مدرسو ، مکتبونو ، روغتونو هم بریدونه کوي. موږ مجبور یو چې د خپل حکومت تر څنګ ودریږو. او د فرعونیانو سره کلکه مقابله

(c) ketabton.com: The Digital Library

**وکړو. لوستونکو د تاسو کومک دا ده چې دغه معلومات مسولو کسانو ته ورسوی.**

**د افغانستان تاريخ وایې!**

**په افغانستان کې روسي پلوي حکومتونه ناکام شوی دي ځکه چې د ناټو له عکس العمل سره مخامخ کیږي.**

**په افغانستان کې ناټو پلوي حکومتونه ناکام شوي دي. ځکه چې د روسیې او شانګهای له عکس العمل سره مخامخ کیږي.**

**په افغانستان کې منځلاری حکومت کامیاب حکومت ده. چې روسانو ته وایې چې تاسو ملګری یم او په موقعیې کې لار تاسو ته در کوم. او ناټو ته وایې چې د تاسو ملګری یم او روسیې ته لار نه ورکوم. لکه د سردار محمد ظاهر شاه حکومت. لکه هند او ترکیه حکومتونه.**

**په افغانستان داسې حکومتونه هم ناکام شوي. چې روسانو ته لار نه ور کوي او له انګریزانو څخه مکافات نه غواړي. لکه د غازي امان الله خان واکمني او د افغان طالبانو دويم ځل واکمني. دا دول واکمني ناکامه واکمني بلل کیږي.  دا واکمني تر هغه وخته دوام لري چې کله د ناټو او شانګهای ګټو ته خاطر پیښ شي نو بیا برید پرې تر سره کیږي. او حکومت نسکورولو ه ځه کیږي. چې څو کاله دې واکمني تر سره کړي وي نو همغومره کاله پروژه بلل کیږي.**

**بله دا چې طالبانو خپل ولس د لوږې او تنګلاسي په لور بیولی ده. کله چې د طالبانو پر ضد کومه بله ډله جوړیږي نو ولس د مجبوریت څخه د مخالفو ډلو ملاتړ کوي. او د دوښمن لپاره د طالبانو حکومت رانسکورول اسانیږي. زموږ وظیفه دا ده چې د برحاله حکومت ملاتړ وکړو. ښه او بده لاره ورته وښایو.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ناټو ولی د افغانستان هوایې حریم څاري

ناټو پوهیږي چې که طالبان مهم معلومات ترلاسه کړي نو کیدای شي چې شنګهای ته لار ورکړي او د ناټو ګټو ته خاطر جوړ کړي، نو دوی به د قطر تړون د ماتولو په بهانه د طالبانو حکومت بیرته را چپه کړي، چې د انګریزانو لخوا د ایمل الظاهری د وژلو دعوه هم د همدې هدف لپاره وه. خبر دار طالبانو بهرنی سیاست واضح کړی د ایران بهرنی سیاست مطالعه کړی په هغه ډول سیاست استعمال کړي، چې ناټو ته د افغانستان په خاوره د برید کولو کومه بهانه ور پری نه ږدي،

دا چې د طالبانو هم ټول فکر جنګې برخې ته شي ددې لپاره انګریزان د طالبانو پر ضد د مختلفو ډلو ملاتړ کوي.

## د مقاومت جبهه

ددې جبهې د رهبری هدف دا دی چې واک په لاس کې ولري. ددې جبهې رهبرانو په حکومتونو کې کار کړی ده. خو دا تاریخ ثابته کړي ده کله چې دغه کسانو واک درلود نو د نورو ولایتونو له ولسونو سره یې د مور او میرې چلند کولو او د دوی مربوطو ولایتونو ته یې ډیره بودیجه ور کوله او نورو ولایتونو ته یې کمه بودیجه ور کوله یا یې په بودیجه کې غلا ور

(c) ketabton.com: The Digital Library

 څخه کوله. دغه ولایتونو اکثره رهبران غلا او زور چلاونکي وو خو بیا یې هم خپلو ولایتونو ته ډیر خدمت کولو او د نورو ولایتونو بودیجه یې غلا کوله. د دغو غلو ښه والی دا وو چې د خپلو ولایتونو وسایل مهمات لکه د روسانو پخوانی ټانکونه ، موټرونه ، سکاټ توغندي او نور مهم وسایل یې اوس وخته پورې ساتلی دي. دا په داسې حال کې ده چې د افغانستان نورو ولایتونو کې رهبرانو دغه ډول وسایل یا له منځه وړی وو یا یې ګاونډیو ملکونو ته کچاک کړي وو.

د فوزي وسایلو په اړه نور معلومات افغان نظامي تجهیزات چیرته دي تر عنوان لاندې لوستلی شئ.

که په لنډ ډول ووایو چې دغه ډول کسان یوازي د واک تږي دي او صرف محدودو سیمو ته د خدمت اراده لري.

ځینې ډووادونه غواړي چې په طالبانو باندې د فشار راوستلو لپاره د مقاومت جبهې ملاتړ وکړي.

د طالبانو په واکمنۍ کې د ناټو ګټه

طالبان شنګهای ته لار نه ور کوي او له ناټو څخه یې مکافات هم نه غواړي، خپله هم داسې قوت نه لري چې د ناټو سازمان ته خاطر جوړ کړي، او بله دا چې د ناټو رهبریت مرکز ته هم لوی خاطر نشي جوړولی. نو ځکه په افغانستان کې د طالبانو حکومت د ناټو او امریکا لپاره بهترین حکومت ده،

د افغانستان ولس دومره قوت لري چې د نړۍ هر قوت یې مات کړی. او

(c) ketabton.com: The Digital Library

انګریزان غواړي چې هم افغان ولس کمزوری شی او هم دغه ولس د طالبانو څخه ملاتړ ونه کړي، د انګریزانو پلان عملي کېږي هغه داسې چې طالبان خپله مصرفې بودیجه د خپل ولس څخه د ګمرک اخیستلو په څڅه د پوره کولو کوشش کوي، او د افغان ولس اقتصاد هم کمزوري کېږي، او د طالبانو څخه د ولس ملاتړ ورځ تر بلې کمېږي. له بده مرغه طالبان د خپل مصرف لپاره په بدیله لاره باندې کار نه کوي. همدارنګه د طالبانو پاچا زر نه بدلېږي نو ځکه ناټو او امریکا  ته د افغان پاچا تګ لارو پېژندنه آسانه ده، که چیري د طالبانو پاچاه کړنې د ناټو ګټو ته خاطر جوړولی شی نو د ناټو لخوا به پاچاه په ښه کېږي او که کړنې یې خاطر نشي جوړولی نو پرېښودل کېږي به. دا په داسې حال کې ده چې په جمهوریت کې پنځه کاله وروسته پاچا بدلېږي او هر پاچا د خپل ځان سره نوی تګ لاره لری شي. نو انګریزان ځکه د جمهوریت پر ځای امارت ښه بولي.

د طالبانو رسمیت پېژندلو پروړاندې خنډونه

امریکا او ناټو به خامخا طالبان په رسمیت پېژني ځکه چې د افغانستان اوسنی د طالبانو حکومت د ناټو لپاره بهترین حکومت دی، خو ناټو غواړي چې د نړۍ پام بلې خواته شي نو ځکه د طالبانو په رسمیت پېژندلو کې په بېړه ونډه نه اخلي. همدارنګه طالبان د ولس له ملاتړ څخه پرته زیات قوت نه لري، او د ناټو ګټو ته په مستقیم ډول خاطر نه شي جوړولی، او له بله پلوه د ناټو پر خلاف د افغان خاوري د استعمال د مخنیوي تړون هم له انګریزانو سره لري، چې په دې سره په غیري

(c) ketabton.com: The Digital Library

مستقیم ډول د ناټو ګټې هم ساتل کېږي. خو د ناټو اوسنی پلان داسې ده چې افغان ولس کمزوری کړي تر څو د ناټو تر اثر لاندې راشي. نو ځکه ناټو په افغانستان کې د طالبانو حکومت ته په هره میاشت کې بانکي سیستم ته پیسې استوي او دغه پیسې طالبانو ته په ګټه تمامیږي ځکه چې په قرض اخیستلو کې نه ورته حسابیږي نو ځکه د افغانۍ ارزښت زیات شوي ده، په دې سره انګریزان غواړي چې د طالبانو مالي سیستم هم فلج نه شي او ولس هم کمزوری شي. ځکه طالبان چې څومره مالیه راټولوی نو دغه راټوله شوي مالیه د دوی حکومت مصرف نه پوره کوي، او نوره بودیجه انګریزان په غیر مستقیم ډول طالبانو ته ور کوي. ځکه انګریزان پوهیږي چې که د طالبانو مالي سیستم فلج شي نو د طالبانو حکومت ړنګیدو سبب کیږي. له بلې خوا انګریزان د افغانستان عام ولس ته د مرستو په نوم یو څه ور کوي، غواړي په دې سره د افغان ولس ملاتړ خپل کړي، او له بلې خوا د شانګهای غړي هوادونه په دې پوهیږي چې په افغانستان کې د طالبانو اوسنی حکومت د ناټو په ګټه ده، سرهددې چې افغان طالبانو په مستقیم ډول د ناټو سره شل کاله جنګ کړی او اوس هم افغان طالبان د ناټو په ضد دي. خو د طالبانو کړنې ناټو او امریکا ته ګټه رسوي نو ځکه د شانګهای هوادونه د افغانستان په رسمیت پیژندلو کې اوسمهال ونډه نه اخلې. له همدې امله افغان طالبانو ته د شانګهای سازمان د 2022 کال په غونډه کې بلنه نه ده ور کړل شوي.

همدارنګه د شانګهای غړو هوادونو ته طالبانو واضح دریځ هم نه دی وړاندې کړی.

طالبان کوښښ کوي چې د طالبانو رسمیت پیژندل له نړیوالو څخه هرر نشي نو ځکه د نړیوالو پام راګرځولو لپاره په افغانستان کې جدي ستونزي رامنځ ته کوي. لکه د مکتبونو او پوهنتونونو څخه د انجونو منع کول. او انجونو ته د کارونو مخنیوی کول، طالبان غواړي چې په دغه کړنو

(c) ketabton.com: The Digital Library

**سره په نړیوالو باندې یو ډول فشار وارد کړي. ای افغان طالبانو د زده کړو مخنیوي سره ډواود لا وروروسته پاتې کېږي. ددې حل لاره دا ده چې په افغان انجونو بندیزونو پر ځای د کمربند ماتولو هڅې وکړی.**

**د اشرف غني د وخت نظامې تجهیزات چیرته دي؟**

**په افغانستان کې د طالبانو واکمنۍ راتللو سره سم اکثره نظامې وسایل ، تجهیزات او اسلاحې د پاکستان لخوا بیرته امریکا او ناټو ته ورسپارل شول ځکه چې دا د قطر تړون یوه ماده وه. د هري ولسوالۍ د مهمو نظامي تجهیزاتو لیست طالبانو ته ورکړل شوي وو. او د لیست سره سم یې مهم نظامي تجهیزات بیرته ناټو ته ورکړل شول. او په دغو تجهیزاتو کې ځینې تجهیزات او اسلاحې د ناټو او امریکا لخوا د پاکستان حکومت ته ور کړل شول.**

**ځینې نور وسایل ، تجهیزات او اسلاحې بیا نورو ګاونډیو ډوادونو ته کچاق شول.**

**او یو کم شمیر کم کیفیته تجهیزات او اسلاحې اوس د افغان طالبانو په لاس کې دي.**

**یعني دا موضوع د قطر په تړون کې معلومه وه چې دومره تجهیزاتو څخه طالبان کار اخیستی شي او دومره تجهیزات به بیرته ناټو ته ور کول کېږي. دا پلان د 17 ولایتونو لپاره جوړ شوی وو، کله چې اشرف غني ټول واک طالبانو ته پریښود نو د تجهیزاتو پلان په 34 ولایتونو کې عملي شو.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**کله چې روسان د افغانستان له خاورې څخه واپس تلل نو ډاکټر نجیب ورڅخه نظامي تجهیزات راستانه کړل. خو دغه روسي نظامي تجهیزات بیا ناټو ته په لاس وراغلل. انګریزانو مهم نظامي تجهیزات له افغانستان څخه بیرته را ټول کړل. ددې لپاره چې روسیې ته په لاس ور نه شي. د قطر تړون له مخې دغه نظامي تجهیزات د افغان طالبانو لخوا ناټو ته بیرته وسپارل شول.**

**خپه کیږی مه ځکه چې یویشتمه پیړۍ ده کله چې په علم کې کمزوری شي نو بل چاته به غواړ نیسی او بل څوک چې تاته لار در ښایې نو ګټې خو به خامخا درڅخه اخلي.**

**پاکستان ولی په خوست او کونړ باندې هوایې بریدونه وکړل؟**

**کله چې افغان طالبان واک ته ورسیدل نو د ټې ټې پې او پاکستان تر منځ یې د سولې خبرو کې منځګریتوب وکړو، د ټې ټې پې او پاکستان تر منځ د پورتنۍ پښتونخوا په خوست ولایت کې خبري پیل شوي، کله چې د ټې ټې پې له خوا دغه خبري ناکامه شوي نو د پاکستان فوځ په افغان طالبانو باندې دعوه وکړه چې د ټې ټې پې سره افغان طالبان لاس لري او باید افغان طالبان د پاکستان ټې ټې پې بیرته د خبرو میز ته راولي، نو افغان طالبانو وویل چې موږ د ټې ټې پې سره اړیکه نه لرو، نو د پاکستان لخوا په افغان طالبانو د فشار لپاره په خوست او کونړ باندې هوایې بریدونه وکړل، له دې څخه وروسته د افغان طالبانو**

(c) ketabton.com: The Digital Library

په منځګړيتوب د خوست پر ځای په کابل کې د سولې خبري شروع شوي، د پاکستان دعوي ته افغان طالبانو د حقيقت ثبوت جوړ کړو ځکه چې د خبرو زامينه يې د خوست پر ځای په مرکز کابل کې ورته برابره کړه، او په افغانستان کې هم د ټې ټې پې غړو باندې د پاکستان لخوا عمليات شروع شوي دی، له افغان طالبانو سره د پاکستان ای ايس ای نفوذي کسان هم شته او د ټې ټې پې نفوذي کسان هم شته.

په افغانستان کې له زورواکو ځخه چا ملاتړ کاوه؟

له زورواکو سره بهرنيو استخباراتي کړيو مرسته کوله چې هدف يې دا وو چې افغانان سره متحد نه شي. او په دغه زورواکو باندې شل کاله مصرف شوی وو. چې اشرف غني دغه زورواکو ته د پای ټکی کیښود، هغه داسې چې زورواکې يې طالبانو سره مقابلې ته برابر کړل او زورواکو د افغان طالبانو پر وړاندې ماتې وخواړه او وتښتيدل.

د افغان طالبانو دوهم مشر ملا اختر محمد منصور د چا لخوا او ولې ووژل شو؟

د افغان طالبانو مشر ملا اختر محمد منصور د isi او cia لخوا ووژل شو، ځکه چې د جنګې تکتيک يې ديره ښه تجربه درلوده، که منصور په دې

(c) ketabton.com: The Digital Library

**باندې پوه شوی وای چې ښکېلو هېوادونو سره په همکارۍ د اسیایي هېوادونو لپاره د اسیا لویې وچې ګټې باید وساتل شي، او په دې کې د مسلمانانو هم ګټه ده نو نوموړي دغه کار کولی شو. ځکه ووژل شو.**

**د افغانستان جنګ ولې پای نه لري؟**

**انګریزان په افغانستان کې هر راتلونکی حکومت ارام ته نه پرېږدي، ځکه چې د انګریزانو څخه د ډیورنډ پوښتنه ونه شي، د انګریزانو او ناټو ګټو ته خاطر جوړ نشي، او زموږ ګاونډي هېوادونه زموږ د اوبو او... شیانو غله دي. له بلې خوا زموږ هېواد د ناټو او ښکېلو تر منځ د جنګ میدان جوړ شوی ده دا ټول ددې سبب شوي چې په افغانستان کې سوله رانشي. که په داسې پلان کار وشي چې ښکېلو ته د هند سمندر ته د تګ لپاره لار ورکړل شي نو افغانستان، ایران، عراق ، سوریه به د جنګ له میدان څخه خلاصون پیدا کړي.**

**په کفري سیاست کې د انسان ارزښت څه ده؟**

**له ظلم څخه ډک په دې سیاست کې د سازمانونو تر ټولو ټیټ رتبه جنګیالي انسانان هڅځ ارزښت نه لري یوازې د قرباني کیدونکي حیوان په څیر ور څخه کار اخیستل کیږي. ټیټ رتبه جنګیالي قرباني ور کوي او لوړ رتبه یې مکافات اخلې. مثلا ناټو د نړیوالو ګټو ساتلو لپاره په افغانستان کې په زرګونو عسکر قرباني کړل، خو بیلاخره یې هغه کسانو ته د واک ور کولو په سر موفقه وکړه چې د دوی عسکر یې وژلي وو. چې اوس هم دغه کسان د ناټو سره مخالفت کوي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**افغانان ولې د خاورې او ځان پلورونکو خلکو په نوم يادېږي؟**

**د افغانستان ولسونه دا څو لسيزې د سخت حالت سره مخ دي، ځکه چې مصرف يې ډير زيات دی او ګټه يې ډيره کمه ده يا هم د مصرفولو او ګټلو تر منځ يې برابروالی نشته، په داسې حالت کې چې کومه ګټه راپيدا کېږي نو افغانان مجبور دي چې د ګټو تر لاسه کولو لپاره ځانونه خرڅ کړي او د پراديو ګټو لپاره کار وکړي. دا مسوليت د حکومت وی چې د خلکو ګټه تر مصرف زياته کړي. کله چې ګټه له مصرف څخه زياته شي نو خلک بيا په اضافه پيسو آبادي رامنځ ته کوی چې د هوواد ابادۍ سبب ګرځي.**

**لومړی تر ټولو ښه حکومت هغه وي چې خپل ولس ته ګټه تر مصرف ډيره کړي.**

**دويم هغه حکومتونه هم يو څه ښه والی لري چې ګټه د مصرف سره برابره کړي.**

**دريم بدترين حکومتونه هغه دي چې د ولس ګټه ورته کمه کړي او د ولس مصرف ورته زيات کړي.**

**د هر حکومت د ښه والي او بدوالي درجې بيا نورې درجې لري مثلا د مصرف په پرتله د ګټو زياتيدل هم فرق لري لکه ډير زياتيدل ، متواسطه زياتيدل او کمه زياتيدل. همدارنګه بدترين حکومت هم د بدوالي درجې لري لکه د ولس د ګټو په پرتله د ولس مصرف ډير زياتيدل ، متواسط زياتيدل او کم زياتيدل.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

کله چې په ولسونو باندې مجبوریتونه راشي نو د ستونزو د حل لپاره پرادیو ګټو ته په کار کولو مجبوري‌ږي نو ځکه د بدو خلکو په نوم یادول کی‌ږي.

حکومت خپلو خلکو ته د کار پیدا کولو او د تجارت یا د توکو اخیستلو او خرڅولو یا د بازار د کنترول مسوولیت لري ځکه چې د توکو قیمتونه ټیټ وساتل شي چې هر څوک ی‌ې د اخیستلو واس ولري. او ولس ی‌ې د بدو خلکو له نوم له یادیدلو څخه وساتل شي.

## انګریزان ولی د افغان طالبانو بانکي سیستم ته پیسې جمع کوي؟

افغان طالبانو د واک تر لاسه کولو سره سم په خپل ولس باندې ګمرکونه ډیر زیات کړل ځکه طالبانو غوښتل چې ټول مصرف له خپل ولس څخه پوره کړي، سره ددې چې په توکو باندې ډیر لوړ ګمرک اخیستل کی‌ږي خو بیا هم د فساد او یو شمیر نورو وجو له مخې د طالبانو مصرف نشي پوره کولی، نو انګریزان مجبور شول چې په هره میاشت کې د طالبانو بانکي سیستم ته پیسې جمع کړي، داچې دا پیسې افغان طالبانو ته په ګټه کې حسابی‌ږي ځکه چې په قرض نه ورته شماری‌ږي، نو ځکه د دوی په واکمنۍ کې د افغانۍ ارزښت د ریکارډ په کچه لوړ شوی ده.

انګریزان په دې سره غواړي چې د طالبانو حکومت د اقتصاد په سبب له ړنګیدو څخه وساتي. ځکه د طالبانو په واکمنۍ کې د ناټو ګټې ساتل کی‌ږي چې دا موضوع د طالبانو په واکمنۍ کې د ناټو ګټې تر عنوان لاندې تشریح شوي ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د كرزي اشرف غني او ملابرادر هغه خبري ريښتيا دي چې په افغانستان کې تحميل شوي جګړه دوام لري او دغه جګړو کې افغانان قرباني ور کوي.**

**کله چې حامد کرزي د بنديانو د خلاصولو امر صادر کړو نو په مقابل کې يې ملاعبدالغني برادر وغوښتل چې افغانانو ته د تحميل شوي جګړي راز د ثبوتونو سره څرګند کړي خو انګريزانو د برادر د نيولو پلان جوړ کړو او دغه پلان د برتانوي پاکستان حکومت لخوا عملي شو او ملابرادر يې بندي خانو ته د ننه کړو او د سختو شکانجو او نورو تکليفونو ښکار وګرځيد او د برادر صاحب سره يې په دې اړه ټول مهم ثبوتونه له منځه يوړل. اوس هم انګريزان پوهيږي چې په ملابرادر باندې د سختو تکليفونو تيريدو له وجې په نوموړي کې د کتاب ليکلو حوصيله نشته او بغير د کتاب څخه خو ښاغلی برادر نورو ته د تحميل شوي جګړي او ريښتوني سولې راوستلو په باره کې قناعت نشي ور کولی. واخ د وطن مينې څنګه دې ښاغلی ملا عبدالغني برادر تر تکليفونو ورساوه. واخ وطنه ستا بچيان له څه ډول تکليفونو سره مخامخ شول.**

**ناټو له عربي هووادونو او په خاصه توګه د کويټ هوواد څخه او په جنوبی آسيا کې له برتانوي پاکستان څخه د خپل کمربند د څارلو او ساتلو لپاره کار اخلي. ناټو غوښتل چې له برتانوي پاکستان څخه افغانستان ته هوايې آډې انتقال کړي خو د ناټو دغه پلان د وخت پاچاهانو يعني کرزي او اشرف غني لخوا  ونه منل شو.**

**د ناټو هوايې آډې د ناټو کمربند ساتلو د کنترول مرکزونه بلل کيږي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ځینې نړیوال مهم مسایل

### د پاکستان صدراعظم ولې له واکه لرې شو؟

د پاکستان صدراعظم عمران خان داسې هدف درلود چې د ناټو او شانګهای جنګ اصلې ځای یعنې هند سمندر ته ورسوي او پاکستان به د قرض ځخه خلاصوي او د ګټو پر لور به ځ،، هغه داسې چې د نوموړي په خبره که طالبان د شانګهای سازمان ته د افغانستان د خاوري له بلخ ځخه تر کندهاره لار ور کړي نو عمران خان چمتووالی ښودلی وو چې د کندهار ځخه تر هند سمندر پورې به پاکستان لار ورکړي، یعنې د بلوچستان د ګوادر بندر په واسطه به د لارې ور کړي  تړون امضاء کړي، ځکه د نړۍ تر ټولو لوی هوواد به افغانستان او پاکستان ته ګمرک ورکوي چې دا یو نړیوال ریکارډ بلل کیږي. کله چې نوموړي دا خبري په مسکو کې وکړي نو هوواد ته په راستنیدو سره له واک ځخه کوښ‌ه شو.

### چین ولې د تجارت پلان بدل کړو؟

په شنګهای سازمان کې چین نړیوالو ګټو ته لار لري خو یو چین ځه نشي کولی ځکه د ناټو سازمان غړي هووادونه زیات دي، خو چین

(c) ketabton.com: The Digital Library

کوښښ کوي چې روسیه کمزوري نشي، ځکه چې چین په دې پوهیږي چې روسیه به د وخت په تیریدو سره نړیوالو ګټو ته لاس رسی پیدا کړي، کله چې روسیې پر اوکراین برید وکړو نو پر روسیه بندیزونه ولګیدل، چین د سعودي سره د ځینو شیانو تجارت لغوه اعلان کړو او قرارداد یې له روسیې سره وکړو ځکه چین غوښتل چې د روسیې اقتصاد ضعیف نشي.

پر اوکراین ولې د روسیې له خوا برید وشو؟

پخوا اوکراین په شوروي اتحاد کې شامل وو یعنې د روسیې یوه برخه وه، د وخت په تیریدو سره له روسیې څخه جلا شوي ده. خو اوس دغه هیواد د ناټو په سازمان کې د داخلیدو په هڅه باندې د روسیې تر برید لاندې راغلو، ځکه چې ناټو او شنګهای یو د بل ضد دي او روسیه د شنګهای مشرتوب کوي. له بلې خوا امریکا د ناټو مشرتوب کوي.

په ناټو او شنګهای سازمانونو کې د هیوادونو ګټې څه دي؟

ځینې هیوادونو له ناټو څخه ګټه وکړه،ځینو له شانګهای څخه ګټه وکړه، خو ترکیې او یو شمیر نورو هیوادونو بیا له دواړو ګټه وکړه. خو افغانستان تر اوسه له توان څخه سیوه تر اوسه نه د ناټو څخه ګټه

(c) ketabton.com: The Digital Library

وکړه او نه هم د شنګهای څخه.

که چیري افغانستان شانګهای ته د لاري ور کولو خبري اتري شروع کړی نو ناټو د خپلو ګټو لپاره د افغانستان آبادی ته مخه کوي. خو هر څه سم مدریت غواړي، که چیري افغانستان په رښتونې ډول شانګهای ته لار ور کړي نو په دغه تړون کې د افغانستان او پاکستان ګټه ډیره زیاته ده.

په سیمه او نړۍ باندې د شنګهای او ناټو څه اغیزي لري؟

د نړۍ مهمې ګټې اوس د انګریزانو په لاس کې دي خو روسیه غواړي چې په دغو ګټو کې ځان ور شریک کړي. انګریزانو د خپل ځان د مقاومت لپاره د ناټو په نوم سازمان جوړ کړي چې پخوا 29 هووادونه پکې شریک وو، کیدای شي چې اوس ېې شمیر زیات شوی وي. له بلې خوا روسیه هم د ځان مقاومت لپاره د شنګهای په نوم سازمان جوړ کړی چې آسیاېې هووادونه پکې شامل دي. د دواړو د مقابلې له وجې افغانستان،ایران،عراق،سوریه د جنګ ډاګرونه بلل کېږي. که چیري له افغانستان،ایران،عراق،سورېې له هووادونو څخه کوم هوواد روسېې ته لار ور کړي نو دا ټول هووادونه به د جنګ له میدان څخه خلاص شي.

د ناټو او شنګهای د غونډو هدفونه څه دي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

دواړه سازمانونه په بیلابیل ډول په څو میاشتو کې یا هم کال کې غونډې جوړوي.

په دې غونډو کې ناټو له خپلو شریکانو سره لاسته راوړنې او مصرفونه همدارنګه راتلونکي پلانونه هم شریکوي.

له بلی خوا شنګهای هم له خپلو شریکانو سره لاسته راوړنې او مصرفونه او راتلونکي پلانونه شریکوي.

د نړۍ ځینې هیوادونه په ناټو سازمان کې شامل دي، ځینې هیوادونه بیا په شنګهای کې شامل دي، ځینې هیوادونه بیا په دواړو کې برخه لري، او ځینې هیوادونه بیا بې طرفه دي. لکه افریکایې هیوادونه چې په نړیوالو ګټو کې بې طرفې ښاری نو ځکه د دوی اقتصاد د همدې او یو شمیر نورو وجو په اساس ضعیف بلل کیږي.

د انګریزانو د قوم ځانګرتیاوې

انګریزان په نړۍ کې چلاک او دوکه باز خلک بلل کیږي، چې د چل او دوکې له وجې د نړۍ په ډیرو هیوادونو باندې امپراطورې یعنې ( د چارو په تر سره کولو کې واک او کنترول) لري. د مثال په ډول اوسمهال ناټو او امریکا په پاکستان ، هندوستان او سعودې عربستان ، قطر ، جنوبې کوریا ، اسرائیلو اروپایې هیوادونو او یو شمیر نورو هیوادونو باندې امپراطوې لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د انګریزانو چل په دې کې دی چې هر هوواد ته د داخلیدو سره سم د هغه هوواد په اوسیدونکو کې بې اتفاقي اچولو کوشش کوي، یوې ډلې ته قدرت په لاس کې ور کړي او بلې ډلې ته هڅڅ قدرت په لاس نه ور کوي. او له مختلفو لارو یې بې اتفاقي او جنګ ته هڅوي. او په یوه سیمه په یوه وخت کې د ټولو مخلفو ډلو قوي ملاتړ کوي او روزنه ور کوي، او مخالفو ډلو ته د جنګ وسایل او شرایط برابروي، او کوشش کوي چې د هري مخالفې ډلې کنترول په لاس کې واخلې. که کومه ډله د انګریزانو خبره ونه منې نو په مخالفه ډله باندنې په هغې ډلې فشار راوړي، او د انګریزانو خبرو منلو ته یې مجبوروي، دا حالت تر هغه دوام لري، تر څو چې هوواد ور ته وویشي او هره ویشل شوي سیمه ډیره کمزوري کړي، د سیمو د کمزورتیا وروسته انګریزان د شخړي د حل تمثیل کوي او منځګړیتوب کوي، ټولو خواوو ته په ښکاره یو څه وایې او په پټه بل څه تر سره کوي. د داسې شرایطو برابرولو کوشش کوي چې د انګریزانو په شتون کې په هغه سیمه کې سوله وي او د انګریزانو په نه شتون کې په هغه سیمه د جګړي او غم اور بل شي، یعنې انګریزان غواړي چې په یوه سیمه کې په عینې وخت کې څو متضادې ډلې یا د یو او بل په ضد ډلو ته روزنه ور کړي، که چیري د دغه سیمي خلک د انګریزانو خبره ونه منې نو دغه متضادو ډلو تر منځ د جنګ شرایط برابروي، له دې لارې دوی مجبوروي چې د انګریزانو خبره ومن،، نو په دې سره په دغه سیمه کې د انګریزانو امپراطورې یا د چارو واک داري رامنځ ته کیدل دوام لري،

انګریزان چې کومو ځایونو یا سیمو ته لاړ شي. په هغه سیمو باندې مصرفونه کوي. خو د وخت په تیریدو سره د مصروفونو په نسبت څو چنده زیاتو ګټو تر لاسه کولو پلان جوړوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**په اسلامي هېوادونو کې د انګريزانو له خوا تر سره شوي پلانونه**

**انګريزان په عراق کې د څو ډلو ملاتړ کولو خو واک يې شياګانو ته ور کړو، او کله چې شياګانو د انګريزانو غوښتنې ونه منل،، نو د سونيانو په واسطه يې په شياګانو فشار راوستو، نو په دې سره په عراق کې د انګريزانو ګټو ته خطر کم شو.**

**انګريزان په ترکيه کې د سنګوريانو او کورديانو ملاتړ کوي خو واک يې سنګوريانو ته ور کړى دى.**

**ناټو او انګريزان د دوبې ، کوېټ ، بهرين ، قطر ، سعودي عربستان ، او نورو عربې اسلامي هېوادونو ملاتړ کوي. خو ناټو او انګريزانو د يادو شويو عربو ملکونو د کنترولو لپاره له ايران هيواد استعمال څخه کار اخل،، عربي هېوادونو ته ويل کېږي چې که امريکا او ناټو يې ملاتړ ونه کړي نو ايران لخوا به له بريد سره مخ شي.**

**انګريزان اوسمهال په هند کې د مسلمانانو او هندوانو ملاتړ کوي، خو ډير واک يې هندوانو ته ور کړى دى، او مسلمانان ډير محدود واک لري.**

**انګريزان په پاکستان کې د پنجابيانو قوي ملاتړ کوي. او د پاکستان تر کنترول لاندې د افغانستان پښتانو سيمو اوسيدونکو ته يې ډير کم واک**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**ور کړی دی.**

**په لنډ ډول داسې ویلی شو چې انګریزانو د خپل کنترول په هر هېواد کې یو داسې پلان جوړ کړی دی. چې د هغه هېواد خلک او حکومت د انګریزانو له امپراطورۍ څخه انګار ونه کړي. څکه که انکار وکړي نو په هغه هېواد کې مختلف مشکلات رامنځ ته کېږي.**

**هغه هېوادونه چې د انګریزانو د ویشلو سیاست ښکار شوي دي**

**د انګریزانو په لاس د المان یا جرمنۍ په ۲ دوه برخو ویشل شوی وو او تر منځ یې د برلین په نوم لوی دیوال هم جوړ شوی وو، خو د جرمنۍ خلک بیرته سره یو ځای شول او د برلین دیوال یې هم وران کړو، اوسمهال یو هېواد دی.**

**د انګریزانو په لاس د کوریا ټاپو وویشل شوه. د شمالې کوریا او جنوبې کوریا هېوادونه رامنځ ته شول، چې اوسمهال هم یاد هېوادونه شتون لري.**

**دانګریزانو په لاس هندوستان هم په دوه برخو یعنې هند او پاکستان باندې وویشل شو.**

**د انګریزانو په لاس پاکستان هم په ۲ دوه برخو یعنې پاکستان او بنګلادیش باندې وویشل شو.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

د انګریزانو په لاس د پښتون قوم هم په ۲ دوه برخو وویشل شو. او دغه تړون د ډیورنډ کرښې په نوم یادیږي. او وروسته ی ې موقت جلا شوي د کوزې پښتونخوا ځمکه پاکستان ته په لاس ور کړه.

وړاندیزونه

افغان حکومت باید له دغه معلوماتو څخه په استفادې خپل داخلي او خارجي تګ لاره سمه کړي.

افغان حکومت باید دغه معلومات د لوړو زده کړو وزارت او پوهنې وزارت نصابې برخو او ټولو معلوماتې سرچینو ته ورسوي.

افغان حکومت باید د ډیورنډ موضوع په اړه دغه معلومات باید په معلوماتې سرچینو کې ځای پر ځای کړي. ځکه چې تر دې وړاندې دغه معلومات د معلوماتې سرچینو څخه غلا شوي وو.

افغان حکومت باید د ناټو او شانګهای تر منځ د جګړو له کمربند څخه افغانستان وباسي. یعنې شانګهای ته د افغانستان په خاوره تر کندهار پورې لار ورکړي، او دا پلان باید داسې عملی شي چې د ناټو له ګواښ

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځخه هم باید ځان وساتل شي.

افغان ولس او حکومت باید په دې ځان خبر کړي چې افغانستان ، ایران ، عراق او سوریه چې د ختیځ ځخه مخ په لودیدیځ په یوه کرښه باندې شتون لري، او دا کرښه د شانګهای د مخنیوي لپاره د ناټو کمربند ده، نو ځکه د هر ډول قومې جنګونو او قومې اختلافونو ځخه لاس واخلی چې دلته د ګډوډیو ځخه مخنیوی وشي. ځکه چې ناټو کوشش کوي چې په دې کمربند کې په خپله شتون ونه لري بلکې په دغه ځایونو کې د خپلمنځې ګډوډیو له وجې دغه کمربند دوام وکړي. د ضرورت په وخت کې ناټو هم په دې کمربند کې ګډون هم کوي.

مثلاً موږ د cia ځخه یو استخباراتي خبر په 26/7/1401هجري شمسي کال د میزان په میاشت کې ترلاسه کړو. ددې خبر له مخې ویل کیږي چې شاوخوا 2500 د ناټو ځواکونه د افغانستان په پروان ولایت په بګرام هوایې آډه کې د افغانستان په خاوره د ناټو کمربند ساتلو هدف لپاره د ځای پر ځای کیدو پلان باندې کار روان ده. دا په داسې حال کې ده چې په افغانستان کې افغان طالبان دوهم ځل لپاره واک ته رسیدلی دي.

د طالبانو په واکمنۍ د ناټو د ګټو شتون په اساس ناټو په افغان طالبانو د برید نیت نه لري بلکې د افغانستان په خاوره د ناټو کمربند ساتلو هدف لپاره ناټو بیرته د افغانستان په موضوع کې د بیرته شاملیدو پلان جوړولو باندې کار کوي.

له برحال حکومت ځخه غواړو چې د افغانستان لپاره ریښتوني خدمت وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د افغانستان له لاري باید د انګریزانو کمربند مات شي ځکه چې د دغه کمربند د شتون له وجې په لکونو افغانان ووژل شول او جنګ لا دوام لري. ډیورنډ کرښه هم رامنځ ته شوه او پښتون قوم په دوه برخو وویشل شو. د افغانستان پایتخت هم ددې له سببه بدل شو.

په افغانانو باندې ډیره بې وزلې او ظلمونه هم تیر شوي او تیرېږي.

په وادونو ، بازارونو ، کورونو ، جنازو ، جوماعتونو ، مکتبونو ، روغتونونو او نورو د ګڼې ګوڼې ځایونو باندې بریدونه شوي دي افغانان ډیر سخت دردیدلي دي. نور نو دا حالت د زغملو نه ده. باید د انګریزانو کمربند مات کړو چې ناټو او شانګهای تر منځ د نړیوالو ګټو پر سر سرحد له منځه ولاړ شي. که نړیوال جنګ شروع کېږي یا هم ناټو او شانګهای موفقې ته رسیږي هغه د دوی خپل کار ده.

موږ باید له ټپل شوي جنګ څخه افغانستان وباسو او ریښتوني سولې ته یې ورسوو ځکه له مسولو چارواکو غواړو چې لومړی معلومات حاصل کړي او وروسته یې د حل لپاره لاس په کار شي.

مهم لنډیز

انګریزانو غوښتل چې نړیوالې ګټې تر کنترول لاندې راولې نو د همدې هدف لپاره د آسیا لوېې وچې د هند سیمو ته داخل شول. لومړی

(c) ketabton.com: The Digital Library

يې د شوروي اتحاد يا اوسنۍ روسيې څخه د ځان د دفاع لپاره يو کمربند رامنځ ته کړو او له کمربند څخه وروسته يې د عربو ټوټه تر کنترول لاندې راوستله چې د عربو ټوټه د نړيوالو ګټو مرکزونه هم دي. په دغه کمربند کې افغانستان ، ايران ، عراق سوريه او ترکيه شامل وو. يعنې روسيه کولی شي چې د افغانستان ، ايران ، عراق سورې هووادونو څخه په هر يو هوواد د تګ لار لري. که چيري د پورتنيو هووادونو څخه يو هوواد روسيې ته لار ور کړي نو د انګريزانو کمربند به مات شي.

دلته موږ يوازې د افغانستان مسايل څېړو!

د دغه کمربند د ماتولو لپاره اشرف غني د ټاپې ، برق او يو شمير نورې پروژې په همدغه کمربند باندې تيرې کړي. چې انګريزان ډير زيات وډارشول چې هسې نه چې دغه پروژې د دغه کمربند د ماتولو سبب شي، او د پروژو د کارکوونکو پر ځای کيدای شي چې د شانګهای فوځيان د افغانستان له لارې د بلوچستان تر ګوادر بندر ورسيږي. دا چې د شانګهای لار هم د افغانستان د شمال او جنوب سيمو باندې تيريږي نو د اشرف غني پروژې هم د افغانستان د شمال او جنوب سيمو باندې تيريدی، مطلب له کمربندې سيمو څخه تر هند پورې د دغو پروژو پلان وو.

نو انګريزان لاس په کار شول او د اشرف غني پلان يې خراب کړو.

انګريزان غواړي چې د دغه کمربند په هکله څوک خبر هم نشي، ځکه چې پروړاندې يې خنډونه را پيدا نشي. خو له بلې خوا اشرف غني په دې باندې پوهيده چې دغه کمربند اوس هم شتون لري خو ځان يې نه خبره بللو او په چل ول باندې يې د کمربند ماتولو هڅه کوله. انګريزانو د کمربند کې شاملو هووادونو په معلوماتې سرچينو کې يې هم لاس وهنه

(c) ketabton.com: The Digital Library

کړي ده. انګریزانو مهم معلومات پټ ساتل شوي وو.

د همدې مهمو مسايلو له وجې په افغانستان کې لاندې کارونه تر سره شوي دي

پايتخت له کندهار څخه کابل ته انتقال شوی ده.

د ډيورنډ تړون رامنځ ته شوی ده.

د ډيورنډ په تړون کې بې طرفه سيمې پاکستان ته په لاس ورغلی دي.

په افغانستان باندې د ناټو او ځينو حالاتو کې د شانګهای لخوا مخامخ بريدونه شوي دي، چې وادونه ، جنازې ، کورونه ، بازارونه ، روغتونونه او په ټوله کې د ګڼې ګوڼې ځايونه تر حملو لاندې راغلې چې په ميليونونو کسان وژل شوی او ټپيان دی. او د مهمو کسانو د وژلو هڅه شوي ده.

د ناټو لخوا په افغانستان کې راغلو حکومتونو ته د مرستو په نوم د مکافاتو پيسې ور کول شوي دي او دغه مکافات د شانګهای سازمان مشرتوب کوونکی د روسې هوواد ته د لاري نه ور کولو په سبب موږ ته د ناټو سازمان را کول.

په افغانستان کې ځينې ډلې د ناټو په ملاتړ او ځينې د شانګهای په ملاتړ جنګ کوي خو جالبه دا ده چې په لويه کې جنګيدونکو کسانو ته يوازې جهادې روحيه ور کول کېږي او په دې نه پوهېږي چې زموږ په جنګيدلو کې د چا ګټه ده.

افغانستان اوس هم د ناټو په کمربند کې شتون لري او اشرف غني هڅه کوله چې د ګډو ګټو پروژو په سبب د انګريزانو دغه کمربند مات کړي.

د قطر په تړون کې هغه لارې وتړل شوي چې د انګريزانو کمربند ماتيدو سبب شي، مطلب افغان طالبان د شانګهای سازمان ته لار نه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورکوي او د ناټو څخه يې مکافات هم نه غواړي، سره ددې چې تيرو حکومتونو روسۍ ته د لار نه ورکړي په سبب له انګريزانو څخه ډير زيات مکافات اخيستل،او د ناټو سازمان ته د مکافاتو ورکولو بوديجه وسپمول شوه. نو څکه ناټو او امريکا د اشرف غني حکومت پر ځای له افغان طالبانو سره د واک ور کولو موفقه وکړه، او ناټو امريکا د افغانستان څخه لاړل. چې له سببه يې په افغانستان کې د مالې ناورين راتلو اټکلونه زيات شوي دي، اوس ناټو د مرستو په نوم د هغه مکافاتو ډيره کمه برخه افغانستان ته ور کوي او افغانان ورته خوشحال دي. دا داسې مثال لري لکه يو کس ته چې په نيمه ګيډه ډوډۍ ور کول کيږي.

دا چې د افغان طالبانو ټول فکر جنګ ته شې نو ناټو او امريکا د افغان طالبانو په ضد د ځينو ډلو ملاتړ کوي.

د افغانستان مهم موقيعت له وجې انګريزان تر فشار لاندې راوستل کيدای شي خو اوس افغان طالبان د انګريزانو تر فشار لاندې راغلی، څکه چې طالبان له خپلو قدرونو څخه کار نه اخلې او خپله هم په دغه برخه کې پوهه نه لري.

افغانستان نه له شانګهای څخه ګټه وکړه او نه له ناټو څخه څکه چې زورواک د واک تږي دي، بغير د اشرف غني څخه خو له بده مرغه چې ډاکټر عبدالله د پلان د خنډ اصلې سبب وو. اشرف غني له بهرني فشار څخه ويره نه درلوده څکه چې نوموړی د افغانستان موقيعت په سبب په ناټو او امريکا فشار راوستلی وو خو په نوموړی باندې د زورواکو داخلي فشار زيات شو او د عبدالله سره د واک ويش په سبب د افغانستان بهرنی تګلاره خرابه شوه خو بيا هم د ځينو پروژو کار وشو.

اشرف غني هڅه کوله چې افغانستان ريښتونې سولې ته ورسوي. خو ناټو د اشرف غني حکومت د ملاتړ تر څنګ د اشرف غني پر ضد جنګيدونکو ډلو ملاتړ ته لار هواره کړي او خپله يې هم د دغو مخالفو

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډلو ملاتړ کولو په ډیرو ځایونو کې یې اسلحې ورته ښکته کړي دي او په ځینو ځایونو کې یې د اشرف غني حکومت پر ځواکونو بریدونه کړي دي. او ناټو دې ته هم لار هواره کړی وه چې د اشرف غني حکومت له مخالفو ډلو سره روسیه کومک وکړي.

د افغان طالبانو په اړه د اشرف غني خبره ریښتیا ده چې افغانستان ریښتونې سولې ته نه دی رسیدلی بلکې په افغانستان کې جګړه اودرول شوي وه چې اوس د ځینو ډلو له لورې بیرته جنګړه شروع شو.

که چیري زه افغان انټرنیشنل انجینیر د افغانستان بهرنۍ تګلاري واک تر لاسه کړم نو په ۳۰ ورځو کې به هر څه بدل شي، امریکا او ناټو به تر فشار لاندې راشي.

که چیري افغان طالبان د اشرف غني د وخت ملې فوځ بیرته خپلو دندو ته را وغواړي نو په بهرنۍ تګ لاره کې مهم بدلون راتللو سبب جوړیدلی شي. نو ناټو او امریکا د خپل کمربند د ساتلو لپاره مجبوریږي چې د افغان فوځ مصارف په خپله غاړه واخلې که چیري یې ونه خلې نو روسیه غواړي چې د ناټو په کمربند کې د ننه د خپل نفوذ لپاره د افغان فوځ مصارف پر غاړه اخلي. خو ددې کار تر سره کیدل هم چل غواړي ځکه چې د مخالف لورې له ګواښ څخه باید مخنیوی وشي. په اوس وخت کې دا کار اشرف غني کولی شي.

که چیري د افغانستان واک د اشرف غني شي او په بهرنی تګلاره کې AIE ور سره مل شي نو افغانستان کې به ډیر زر ریښتونې سوله راشي او هوواد به دومره په بیړه پرمختګ وکړي چې نړیوال ریکارډ به جوړ کړي.

د کتاب د حجم کموالی لپاره مې صرف مهم مسایل راخیستي دي.

د ناټو کمربند اوس هم دوام لري چې له وجې یې د یادو هوودونو خلک

(c) ketabton.com: The Digital Library

غریب کار پاتې شوي دي.

نو ما افغان انټرنیشنل انجینیر AIE له خوا دغه معلومات په 8 /7/1401 جمعې په ورځ د pdf په بڼه افشاء کړل. او 2/8/1401 هجري شمسی کال د دوشنبې په ورځ ور ځخه اپلیکیشن جوړ شو.

د استخباراتي معلوماتو کاپې کول ، پښتو ژبې ته ژباړل ، هدف ورځخه اخیستل ، ترتیبول کتاب تري جوړول او اپلیکیشن ورځخه جوړول ټول کار یوازې د aie لخوا تر سره شوی ده.

هر لوستونکی پښتون او افغان باید دغه کتاب مطالعه کړي په موضوعګانو یې باید ځېړنه وکړي، کله چې حقیقت ورته  معلوم شي نو په مستقیم او غیر مستقیم ډول دې دغه مهم کتاب تر نورو ورسوي. لکه بیلابیلو رسنیو ته ، د پوهنتونونو استاذانو ته ، د سیاسي چارو شنونکو ته ، تاودو بحثونو ګډون کوونکو ته او...

ای پښتانو او افغانانو خپل احساسات مو راوپاروئ او د دغه کتاب د چاپ پر وړاندې د شته خنډونو مخنیوي هڅې وکړئ. ځکه چې له ځینو کتابتونونو ځخه د دغه ډول کتابونو چاپولو په سبب ډیره جریمه اخیستل شوې ده. چې دا حالت د منلو وړ نه دی.

په دغه کتاب کې هر څه په ښکاره ویل شوي دي، پټ رازونه هم پکې ځرګند شوي دي. او د کومې ډلې طرف نه دی پکې شوی. نو هیله لرم چې کومه ډله د حقیقت په ویلو خپه نشي. ګرانو هووادوالو که د کومې ډلې کړه وړه پکې پټ شي نو دغه موضوع ور سره ګون‌ګه پاتې کیږي. نو ځکه مې بې طرفې اعلان کړه او هر څه مې ښکاره کړل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دلیکوال په اړه معلومات

زه افغان انټرنیشنل انجینیر یا AIE د لویې پکتیا (غزني پکتیکا پکتیا خوست لوګر) اوسیدونکی یم. تر ۱۶ ټولګې پورې زده کړې لرم. د نړیوالې نقشې انجینیر یم. ۲۴ کاله عمر لرم او تر اوسه مې واده نه دی کړی. خوشبختانه چې زه په دې بریالی شو چې له بهرنیو استخباراتې کړیو څخه دغه پټ معلومات کاپې کړم او په افغانستان کې د طالبانو حکومت او افغان ولس ته یې د شرایطو مطابق له نامعلوم ادرس څخه وړاندې کړم. همدارنګه د دغو مهمو معلوماتو پلټلو موندلو راټولو کاپې کولو او کتاب جوړولو ټول کار ما په یوازې ځان تر سره کړی دی. او تر خپل واس پورې کوشش کوم چې د مسلمانانو او خصوصاً د افغانانو په اړه د دوښمنانو له پلانونو پرده اوچته کړم تر څو لوم‌ړی د ستونزو تشخیص وشي او بیا ورته حل لار پیدا کړو.

له ټولو لوستو افغانانو څخه زما غوښتنه دا ده چې دغه معلومات خپله هم ولوالئ او نورو د کوزې پښتونخوا او پورتنې پښتونخوا ټولو پښتانو ته یې هم ورسوي. تر څو له دغه مهمو معلوماتو څخه ټول پښتون او افغان ولس خبر شي.

که چیري زه ډاډمن شم چې زما ژوند ته خاطر نه وي نو زه چمتو یم چې د نورو انسانانو د وینو تویولو د مخنیوي او د خپل هوواد د آبادۍ لپاره د افغان طالبانو له حکومت سره یو ځای په ښکاره کار وکړم، خو که زما

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژوند ته خاطر وي نو زه به بیا په لیکلې بڼه له نامعلوم ادرس څخه خپل حکومت او ولس ته معلومات ور کړم. زه خپلمنځې اختلاف منم خو د پښتانو او افغانانو غیرت بل چاته نشم ور کولی. دا خبره مې ځکه وکړه چې ما د بهرنیو استخباراتو معلوماتو ته لاس راسی پیدا کړی ده. نو بهرنیان به خامخا زما په اړه لاس په کار کیږي.

که چیري زه د افغانستان لپاره د بهرنې سیاست مشاور شم نو د الله ج په فضل به په ډیر کم وخت کې به د ناټو کمربند مات کړم.

د افغان انټرنیشنل انجینیر اصلې نوم او تخلص د پلار او د نیکه نومونه دا ټول چې سره جمع کړي نو ۳۳ تورې کیږي او د ابجد په حساب ۱۱۲۷ یا ۱۱۳۰ عدد تري جوړیږي.

که چیري په دغه کتاب کې املاءې غلطي وي نو په حل کې یې را سره مرسته وکړئ. ځکه دغه کتاب په ډیره بیړه باندې لیکل شوي.

خپل نظرونه ، نیوکې ، وړاندیزونه ، او پوښتنې د telegram چینل او Gmail له لارې شریکولی شئ.

-:aie Telegram channel adrass

https://t.me/afinternationalengineer

(c) ketabton.com: The Digital Library

aie Telegram grup

https://t.me/AIEgrouping

-:aie gmail adrass

afghanintarnishnalangineeraie@gmail.com

ماخذونه یا اخځلیکونه

د امریکا ، انګلیستان ، پاکستان ، روسې او په ټوله کې د شنګهای او ناټو استخباراتې کړیو څخه دغه معلومات کاپې شوي دي، پښتو ژبې ته ژباړل شوي دي، هدف ورځخه اخیستل شوی ده، او له څو مرحلو وروسته کتاب تري جوړ شوی ده.

ناټو او شانګهای نه غواړي چې ددغه معلوماتو څخه عام خلک خبر شي.

همدارنګه ناټو غواړي چې په هره ممکنه لار د افغان ولس او افغان حکومت ته د دغه ډول معلوماتو رسیدو څخه مخنیوی وکړي، خو خبر نه دي چې افغانانو کې داسې کسان شته چې افغانانو ته به دغه ډول معلومات ورسوي.

دغه مهم معلومات تاسو ته د افغان انټرنیشنل انجینیر (AIE) لخوا

(c) ketabton.com: The Digital Library

**وړاندې شول.**

**له لوستو کسانو څخه غواړو چې دغه معلوماتو پلټنه وکړي کله چې حقیقت ورته معلوم شي نو له دغه معلوماتو څخه کتاب او کاریال جوړ کړي او نور ته يې ورسوي.**

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**